د ۱۳۹۱ لمریز کال رمضان المبارک

د ۱۳۹۱ لمریز کال رمضان المبارک

د ۱۳۹۱ لمریز کال رمضان المبارک

د ۱۳۹۱ لمریز کال رمضان المبارک

د ۱۳۹۱ لمریز کال رمضان المبارک




۲۰۱۲ زیږدیز

۲۰۱۲ زیږدیز

۲۰۱۲ زیږدیز

۲۰۱۲ زیږدیز

# د روژې سوغات

د ۲۰۱۲ز کال د روژې سوغات په ډېرشو برخو کې شپېته راټولې سوې ارزښتناکه ټوټې د ډاکټر نثار احمد صمد د {اخلاقي کنایې} نومې اثر څخه خپله د لیکواله له خوا انتخاب سوي دي .په ذکر سوي اثر کې ۴۳۴ تربیوي او اخلاقي عنوانونه سته، چې په نږدې راتلوکي کې به یې د چاپ چارې بشپړې او ستاسو قدرمنو لوستونکو او درنو مینه والو لپاره به یې د کاغذ د بڼې لوست هم ممکن سي .

**تهیه کوونکی :**

**ډاکټر نثار احمد صمد**

**د کتاب ټول حقوق د تهیه کوونکي سره خوندي دي .**

# د دې ځانګړي لړۍ پېژندنه :

نوم: د روژې سوغات

((د ۲۰۱۲ز کال د روژې سوغات نومي لړۍ په د برشو برخو کې د راټولو سوو ارزښتناکو ټوټې د ډاکټر نثار احمد صمد د {اخلاقي کنايې} نومي اثر څخه انتخاب سوي دي.))

تهیه کوونکی: ډاکټر نثار احمد صمد

کمپوز : خپله تهیه کوونکی

د لیکوال بریښنالیک: nsamad57@hotmail.com

انلاین چاري: مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام بریښنايي کتابتون

www.Larawbar.com

# لړلیک

**یادونه** :
عیني فهرست د لراوبر ویبپاڼې د اسلام په څانګه کې انلاین هم سته او کولائ سئ چې انلاین یې ښېله کښته کولو (ډاونلوډ) څخه ولولئ. لینک یې: http://www.larawbar.net/33362.html


۱. د روژې لومړۍ تحفه: [قرآن مو څنګه ساتي؟] او [د مځکې دعوه]

۲. د روژې دوهمه تحفه: [چغلي ګر د باور وړ نه وی] او [لس خلک ، مګر یو سوال]

۳. د روژې درېیمه تحفه: [درې ډوله کسان د عذاب وړ دي] او [د شیطان مال التجاره]

۴. د روژې څلورمه تحفه: [د انسانیت تعریف] او [د رسول الله (ص) موسکا]

۵. د روژې پنځمه تحفه: [د ځواک انډول] او [د عقل زکات]

۶. د روژې شپږمه تحفه: [فرشته د مظلوم مرستندوی وی] او [مځکې له دې چې ناوخته سی]

۷. د روژې اوومه تحفه [شپږ ډوله کسان دوږخي دي] او [دغه او هغه اور]

۸. د روژې اتمه تحفه: [حسد اول حاسد زیانمن کوی] او [د روح او جسم دعوه]

۹. د روژې نهمه تحفه: [درې ایمانی عادتونه] او [که دا نه کیږی ، هغه وکړه]

۱۰. د روژې لسمه تحفه: [چغلیګر او غیبت کونکی تجرید کړه] او [څه باید وکړو ؟]

۱۱. د روژې یوولسمه تحفه: [د الهی رحمت څخه محرومیت] او [پنځه پخې وجیزې]

۱۲. د روژې دوولسمه تحفه: [له حسده د خلاصون طریقه] او [د رسول الله (ص) نصیحت]

۱۳. د روژې دیارلسمه تحفه: [اووه پخې خبرې] او [د طبیب الهی عشق]

۱۴. د روژې څوارلسمه تحفه: [د بدۍ په بدله کی سوغات] او [د مرګ آرزو]

۱۵. د روژې پنځلسمه تحفه: [د پنځو کارونو ثواب خورا ستر دی] او [رښتیا او درواغ]

۱۶. د روژې شپاړسمه تحفه: [د والدینو لس حقوق] او [پر والدینو د اولاد حقونه]

۱۷. د روژې اوولسمه تحفه: [لس ډوله انسانان جفاکاران دي] او [نفرت په محبت بدل سو]

۱۸. د روژې اتلسمه تحفه: [یو عمل څنګه بل عمل بشپړوی ؟] او [پام او خبردارئ]

۱۹. د روژې نولسمه تحفه: [د ګناه لیکل څنګه ځنډول کیږی؟] او [په قیامت کی پنځه پوښتنی]

۲۰. د روژې شلمه تحفه: [د جنت ضمانت] او [مګر د عمر (رض) الله خو مو وینی]

۲۱. د روژې یوویشتمه تحفه: [انسان ته د مځکی خبردارئ] او [تظاهری او حقیقی ادعاګانی]

۲۲. د روژې دوه ویشتمه تحفه: [ګاونډی درې ډوله وی] او [د علم زوال او د جهالت خپرېدل]

۲۳. د روژې درویشتمه تحفه: [شیطان پنځه زامن لری] او [جنازه ایرلاینز]

۲۴. د روژې څلیرویشتمه تحفه: [د عرش سیوری د چا لپاره ؟] او [لمونځ او ننني مسلمانان]

۲۵. د روژې پنځه ویشتمه تحفه: [د قول او عمل اختلاف] او [هغوی چی لمونځ نه کوی]

۲۶. د روژې شپږویشتمه تحفه: [د توبه کونکې سره څه وکړو ؟] او [د اورضد سپر]

۲۷. د روژې اووه ویشتمه تحفه: [د بې نمازه انسان سزا] او [مفلس څوک دی]

۲۸. د روژې اته ویشتمه تحفه: [د اسلام اصلی روح] او [توبه ګناه باالکل محوه کوی]

۲۹. د روژې نهه ویشتمه تحفه: [د ایمان دښمن] او [دعا ولی نه قبلیږی؟]

۳۰. د روژې وروستۍ (دیرشمه ) تحفه: [زړه او ژبه څومره مهم دي] او [د نیک عملو او بد عملو عذاب]

د لیکوال لنډ یادابنت

# پیل

# د روژې لومړۍ تحفه: [قران مو څنګه ساتي؟] او [د مځکې دعوه]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-07-19

عزتمنو او پتمنو لوستونکو ، په تیرو دوو کلونو کی د روژې د مبارکو میاشتو غوندی یو ځل بیا ستاسو په خدمت کی یوه نوې لړۍ انشاالله پیل کوم چی منځپانګه یې اصلاحی ، اخلاقی او فلاحی ده. دا دیرش برخی می د خپل ناچاپه کتاب (اخلاقی کنایې ) څخه انتخاب کړې دي.
څنګه چی ژوند ډیر لنډ او فانی دی او د سترګو په رپ کی درومی ، نو ښه به دا وی چی هغه څه وکړو چی لپاره یې دې دنیا ته راغلي یو. نو دا هم د لومړنۍ روژې لپاره لومړنۍ تحفه ؛ (ن. صمد)

## قرآن مو څنګه ساتی ؟

دا معلوم حقیقت دی چی د قرآن تلاوت ، په هغه پوهېدل او هغه عملی کول د اسلام اصلی هدف او د انسان لاینفک حق دی. قرآن حتی د مړینی څخه وروسته هم مؤمن ساتی. رسول الله (ص) داسی فرمایلی دي: کله چی یو سړی مړ سی او خپلوان یې د هغه په ښخولو مصروف وی ، نو د ده سر ته یو ډیر تکړه او غښتلی سړی درېږی. دغه پیاوړی انسان د مړي د کفن او ځیګر تر منځ ځای نیسی. کله چی تر ښخولو وروسته خلک بیرته خپلو کورونو ته ولاړ سی ، نو د منکر او نکیر دوې ملایکی د ده قبر ته راسی او کوښښ کوی چی دغه پیاوړی سړی ایسته کړی تر څو هغوی د مړي څخه په خصوصی توګه د هغه د ایمان او عقیدې په هکله تحقیقات وکړی. خو دغه غښتلی سړی ورته وایی چی هغه زما ملګری دی ، هغه زما دوست دی. زه به هغه په هیڅ ډول هم یوازی پرې نه ږدم. که تاسو د پوښتنو لپاره مقرر سوي یاست نو خپل کار مو وکړئ ، خو زه دئ تر هغه مهاله نه پریږدم څو چی جنت ته می نه وی داخل کړئ.

وروسته خپل دغه مړه ملګري ته داسی وایی: زه قرآن یم چی تا به کله په لوړ ږغ او کله هم په کښته ږغ تلاوت کولم. مه وارخطا کیږه ، د منکر او نکیر تر ګرویږنو وروسته به ته غم ونلرې.
کله چی تحقیقات ختم سی نو دغه تکړه سړی به د الملع الاعلی (چی د جنت ملایکی دي ) څخه وریښمینه بستره ورته تهیه کړی چی د مشکو بوی به یې ځی.
رسول الله (ص ) فرمایلی دي چی د قیامت په ورځ به د الله په وړاندی هیڅ کوم شفاعت والا تر قرآن لوړ دریځ ونلری ، نه رسول او نه هم ملایکه.

هو ، د نن ورځی اکثریت مسلمانان خصوصاً افغانان اول خو قرآن نه تلاوت کوی ، که یې تلاوت کوی نو په معنی یې نه پوهیږی ، که یې په معنی پوه سی نو عمل نه په کوي. موږ قرآن ډیر نفس تنګه ساتلی دی او ساه یې ځکه بنده وی چی په اوو پوښونو کی مو پېچلی وی او هلته لوړ مو په دوړو کی ایښی وی. چندانی مو نه په کاریږی بلکی هغه مهال یې را اخلو چی مسافر له کوره وځي یا په واده کی د ناوي پر سر نیول کیږی ، او یا دا چی کله غم او مصیبت راباندی راسی نو مو په یاد سي او له دوړو یې پاک او په زاریو یې خدای ته شفیع کړو.... خورا ډیر یې ستایو خو نه یې خپلوو ، خورا ډیر قسمونهورباندی اخلو خو سرچپه عمل په کوو ، خورا ډیر عزت یې کوو خو عملاً یې نه منو او خورا ډیر را نږدې دی خو نه یې وینو.... نو آیا په دغسی حالاتو کی هغه د یو عادی یا اضافی کتاب څخه علاوه بل اهمیت لرلای سی ؟آیا هغه به مو د پورتني حدیث له مخی په قبر او آخرت کی شفاعت وکړي؟ نو اوس لا هم ډیر ناوخته نه دی او راځی چی عملاً هغسی مسلمانان سو لکه په خوله چی وایو!

## د مځکی دعوه

یوه ورځ دوه کسان چی د مځکی د مالکیت په سر یې دعوه لرله ، حضرت علی (رض) ته ورغلل او هیله یې ترې وکړه چی د هغوی تر منځ عدالت او قضاوت وکړی. حضرت علی (رض) چی کله د دواړو مدعیانو خبري او ادعاګانی واوریدې نو هغوی ته یې وویل چی راځی او هغه مځکه باید له نږدې وګورم.

علی (رض) او هغه دواړه مدعیان په ګډه هماغه مځکی ته ولاړل. هلته حضرت علی (رض) خپل سر کښته ځړولی او سترګی یې مځکی ته نیولي وې او کرار کرار ږغیدئ. مدعیان حیران وو چی علی (رض) څه کوی او څه وایی.

یو ګړی وروسته حضرت علی (رض) خپل سر راپورته کړ او هغوی دواړو ته یې داسی وویل:
دا مځکه خو بل څه وایی ! مدعیانو په تعجب او تردید سره وپوښتل چی څنګه ؟
علی (رض) ورته وویل چی مځکه وایی چی هغوی دواړه درواغ وایی ، ځکه زه د هغوی مالکیت نه یم بلکی هغوی پخپله زما مالکیت دی. دواړه زما له وجوده جوړ سوي او بیرته به همدا زما غیږ ته راځي!

د دې ترخه حقیقت په اوربدلو سره دواړه مدعیان هیښ او پښېمانه سول او ځای پر ځای یې توبه وکړه.

هو ، نن موږ عملاً وینو چی د بل حق خوړل ، غصبول او تلف کول یوه عادی خبره ګرځېدلې ده. ناحقه دعوې او قبضې په شدت سره جریان لری او زور د هغه چا سره دی چی زیات ثروت ، رفاقت ، قومیت او جهالت ولری. نو الله دی یې اصلاح او فلاح کړی.

# د روژې دوهمه تحفه : [چغلي ګر د باور وړ نه وی] او [لس خلک ، مګر یو سوال]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-07-20

عزتمنو او پتمنو لوستونکو ، په تیرو دوو کلونو کی د روژې د مبارکو میاشتو غوندی یو ځل بیا ستاسو په خدمت کی یوه نوې لړۍ انشاالله پیل کوم چی منځپانګه یې اصلاحی ، اخلاقی او فلاحی ده. دا دیرش برخی می د خپل ناچاپه کتاب ( اخلاقی کنایې ) څخه انتخاب کړې دي.
څنګه چی ژوند ډیر لنډ او فانی دی او د سترګو په رپ کی درومی ، نو ښه به دا وی چی هغه څه وکړو چی لپاره یې دې دنیا ته راغلي یو. نو دا یې هم د دوهمی روژې تحفه ؛ ( ن. صمد )

## چغلي ګر د باور وړ نه وی

حضرت حسن بصري (رح) وفرمایل: هر چا که د بل چا بدي درته بیان کړه ، نو پوه سه چی ستا خبری هم حتماً نورو ته کوی. ځکه نو پر ځان باید د بل چا د بد ویلو یا بد کولو یقین ونسی.

یو چا د عمر بن عبدالعزیز په حضور کی د بل چا غیبت کاوه ، خو عمر (رح) ورته وفرمایل چی که دا خبره دروا غ وی نو د دغه آیت مصداق پیدا کوی: « که کوم فاسق شخص یو خبر درته راوړ په هغه هکله تحقیق وکړه » ( الحُجرات: ۶ ) ؛

خو که هغه څه چی ته یې وایې رښتیا وی ، نو د دغه آیت مصداق دی: « ډیر عیب لټونکیٌ شخص چی تل چغلۍ کوی » ( القلم: ۱۱ ). نو ستا دا خبری په هیڅ حالت کی هم د باور وړ نه دي.
په دې سره هغه سړی شرمنده او پته خوله سو او بیا یې د داسی ناوړه کارونو څخه توبه وکړه.

هو ، نن موږ عملاً ګورو چی اکثریت مسلمانان په دغه مصیبت کی راګیر دي او د رحمان پر ځای شیطان خوشاله کوی. نو الله تعالی دی ټولو مسلمانانو منجمله افغانانو ته ( چی غیبت او چغلۍ یې عادت غوندی سوی دی ) د دغسی ناولو اعمالو د ترک او خوشی کولو توفیق راکړی.

## لس خلک ، مګر یو سوال

یوه ورځ لس کسان د حضرت علی (رض) حضور ته راغلل او ورته وېې ویل چی موږ لس کسان یو ، او صرف یوه پوښتنه درڅخه کوو ، مګر لس بېلا بیل ځوابونه غواړو . حضرت علی (رض) ورته وویل چی سوال مو وواياست. هغوی ورته وویل چی آیا علم بهتر دی که مال او دولت ( یعنی شتمني ) ؟ حضرت علی (رض) هم د دې پوښتنی لس مختلف ځوابونه داسی ورکړل:

۱ ـ علم ځکه بهتر دی چی مال به ته پخپله ساتې ، لاکن علم تا ساتی ؛
۲ ـ علم ځکه بهتر دی چی مال د فرعون او هامان ترَه که وه ، خو علم د نبیانو میراث دی ؛
۳ ـ علم ځکه بهتر دی چی مال او دولت په مصرفولو سره لږیږی ، خو علم په مصرفولو سره ډیریږی ؛
۴ ـ علم ځکه بهتر دی چی مال د ډیری مودې ساتلو له امله خرابیږی ، خو علم نور هم تازه کیږی ؛
۵ ـ علم ځکه بهتر دی چی په هغه سره زړه روښانه کیږی ، خو په مال سره هغه پیکه او تیاره کیږی ؛
۶ ـ علم ځکه بهتر دی چی په ډیرښت سره یې رسول الله (ص) حق ثابت کړ ، خو د مال په ډیرښت سره فرعون د خدایی دعوه وکړه ؛
۷ ـ علم ځکه بهتر دی چی د غلا څخه ژغورلی دی خو مال د غلا باالکل وړ دی ؛
۸ ـ علم ځکه بهتر دی چی لرونکی یې کریم او سخی بلل کېدای سی ، خو د مال لرونکی اکثراً بخیل وی ؛
۹ ـ علم ځکه بهتر دی چی په ډیرولو یې دوستان ډیرېدای سی ، خو د مال په ډیرولو دښمنان ډیرېدای سی ؛
۱۰ ـ علم ځکه بهتر دی چی په قیامت یې لرونکی خورا لږ حساب کتاب ورکوی خو مال لرونکی یې خورا ډیر حساب کتاب ورکوی ؛

د دې یوې پوښتنی د دغو لس بېلابیلو ځوابونو په اورېدو سره نوموړي لس کسان ډیر خوشاله او رخصت سول.

هو ، لوی خدای دی ټول مسلمانان په هغسی عملی علم سره منور کړی لکه صحابهٔ کرام ، تابعین ، تبعه تابعین او نور نیکان او ولیان چی وو ، تر څو د جهالت غوړېدلې لمن ټوله او ختمه سی.

# د روژې درېیمه تحفه: [درې ډوله کسان د عذاب وړ دي] او [د شیطان مال التجاره]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-07-22

عزتمنو او پتمنو لوستونکو ، په تیرو دوو کلونو کی د روژې د مبارکو میاشتو غوندی یو ځل بیا ستاسو په خدمت کی یوه نوې لړۍ انشاالله پیل کوم چی منځپانګه یې اصلاحی ، اخلاقی او فلاحی ده. دا دیرش برخی می د خپل ناچاپه کتاب ( اخلاقی کنایې ) څخه انتخاب کړي دي.
څنګه چی ژوند ډیر لنډ او فانی دی او د سترګو په رپ کی درومی ، نو ښه به دا وی چی هغه څه وکړو چی لپاره یې دې دنیا ته راغلي یو. نو دا هم د درېیمی روژې لپاره درېیمه تحفه ؛ ( ن. صمد (

## درې ډوله کسان د عذاب وړ دي

حضرت رسول اکرم (ص) وفرمایل: الله تعالی د قیامت په ورځ درو کسانو ته د رحمت په نظر نه ګوری او د هغوی سره خبری نه کوی بلکی په درد ناک او سخت عذاب یې مبتلا کوی چی هغوی دا دي:
لومړی- زانی شیخ [ یعنی هغه څوک چی په سپین ږیروالي کی زنا کوی ؛ د دې مطلب دا نه دی چی زنا په ځواني کی ګناه نه ده یا سزا نلری. خو په پیری کی ځکه د سخت عذاب وړ ده چی د سپین ږیري شهوانی قوت کمزوره سوی وی او هغه د حتمی مرګ په انتظار وی ] ؛
دوهم- درواغجن واکمن [ درواغ د هر چا لپاره ډیر بد کار دی او عذاب به ورکول کیږی ، خو د واکمن لپاره ځکه د سخت عذاب وړ دی چی د بل د بیری یا د لحاظ په خاطر درواغ نه وایی بلکی د خپل مقام له دریځه دا ګناه کوی ] ؛
دریيم- متکبر فقیر [ تکبر د هر چا لپاره ډیر بد عمل دی ، خو د فقیر لپاره ځکه د سخت عذاب وړ دی چی پر کولو یې هیڅ دلیل نلری خو بیا هم داسی ناوړه عمل کوی. ]
هو ، نن موږ ګورو چی هر ځای په رښتیا هم لږ یا ډیر دغه درې ډوله انسانان په دغسی ګناه او پستی مبتلا دي. نو الله دې د هغوی او دغو ناروا اعمالو تر منځ تلپاته بیلتون راولی ؛ ککړو انسانانو ته دې الله نجات ورکړی تر څو نور انسانان یې له ظلم او شر څخه خلاصون ومومی. متباقی انسانان دی الله تعالی د دې مصیبتونو څخه وژغوری.

# د شیطان مال التجاره

یو وخت حضرت عیسی (ع) ولیده چې شیطان پر څلورو خرو باندی درونډ بار اېښی او روان دی.
عیسی (ع) ورڅخه وپوښتل چې اې لعین او مردوده ! دا دې څه بار کړي دي ؟ شیطان داسی ځواب
ورکړ: دا تجارتی مال دی یعنی پر یو خره می ظلم بار کړی دی ، پر بل می خیانت او غولول ، پر
دریېم می مِکر او فریب او پر څلورم باندی می هم غرور بار کړی دی.
عیسی (ع) بیا ځنی وپوښتل چې: د دې مال رانیونکي څوک دي ؟ شیطان ورته وویل چې: ظلم د
بیرحمو واکمانو د خوښې وړ دی ، خیانت او خطا ایستل تجاران او دکانداران راڅخه رانیسی ، د
مکر او فریب اخیستونکي ښځې دي او غرور هم پر عالمانو او پوهانو باندی خرڅوم چې هغوی یې
ډیر شوقیان دي. په دې سره عیسی (ع) حیران سو او « والله حول و لا قوته الی بلا العلیم العظیم»
یې وو ایه او ځنی ولاړ.
هو ، که نن موږ لیری او نږدې وګورو ، نو په رښتیا هم عادل واکمنان خورا لږ دي ، صادق
کاروباریان خورا لږ دي ، له مکره پاکی ښځی لږ دي او باالاخره بې غروره پوهان هم لږ دي. الله دی
دا ټول اصلاح او متوجه کړی تر څو نور کسان یې له اذیته خلاصون و مومی او هم ډیر ناوخته نسی
.

# د روژې څلورمه تحفه : [د انسانيت تعریف] او [د رسول الله (ص) موسکا]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-07-23

ګرانو دوستانو ، دا ثابت حقیقت دی چی الله تعالی بې حده کریم او رحیم دی ، خو د روژې په میاشت کی یې حلال شیان حرام کړی دي ! یعنی د سهار د اذان څخه د ماښام تر آذانه یې خوراک ، څښاک او جماع حرام کړی دي چی خپله فلسفه لری. په دې میاشت کی شیطان تړلی او د جنت دروازې خلاصی دي. نفل د فرضو اهمیت او درجه لری..... نو څومره به ښه وی چی الهی تقاضا مخلصانه مراعات کړو. او دا هم د روژې څلورمه تحفه. مأخذ: د لیکوال ناچاپه اثر ( اخلاقی کنایې ).

## د انسانيت تعریف

یو چا د احنف بن قیس (رح) څخه وپوښتل چی انسانیت یعنی څه ؟ دا سی یې ورته وفرمایل:
۱ : تواضع کول ، سره له دې چی شتمني او ثروت ولری ؛
۲ ـ عفو کول ، سره له دې چی د بدل او انتقام قدرت ولری ؛
۳ ـ د خلکو سره دوستي او مرسته کول ، بېله کوم منت څخه ؛
۴ ـ د قهر او غوصې پر مهال د تلوار پر ځای د صبر او زغم څخه کار اخیستل.

البته په صبر کولو کی درې ګټی نغښتی دي:
لومړی ـ له امله یې خوښي او نیکمرغي منځته راځی ؛
دوهم ـ له امله یې ټول خلک ستاینه کوی ؛
دریېم ـ له امله یې د الله په دربار کی تر ټولو ښه اجر او ثواب ګټي.
خو په تلوار او عجله کی یې دغه زیانونه پیښیږی:
لومړی ـ له امله یې پښېمانه او سرخوړئ کیږی ؛
دوهم ـ له امله یې هر څوک ملامت او بد بولی ؛
دریېم ـ له امله یې د الله په دربار کی تر ټولو بده سزا ورکول کیږی ؛

**الحِلمُ اوّله مُر مذاقته لکن آخِرهُ احلی مِن العسل** « د صبر مزه لومړی ډېره ترخه وی لاکن په پای کی تر عسلو هم خوږه وی« .

هو ، انسان هم چی ناروغ سی د جوړتیا لپاره یې دوا ترخه وی ، په مشکل سره یې خوری او تندی یې تریو نیولی وی. پوښتنه دا ده چی ولی دغسی کوی ؟ دا ځکه چی انجام او عاقبت یې مدنظر نیولی وی چی هغه روغتیا ، شفا او سلامتیا ده. مؤقتأ پر ځان دغسی تکلیف او عذاب تیروی خو راتلونکې یې سمه او سالمه وی. نو ځومره به ښه وی چی موږ هر ځوک دغسی عارضی او مؤقتی تکلیف پر ځانونو تیر کړو تر ځو نهایی ثمره یې خوږه وی ، انشاالله.

## د رسول الله (ص) موسکا

عایشه (رض) روایت کوی چی یو ماخستن رسول الله (ص) راته وفرمایل چی ای عایشې ! تر هغه وخته مه بیدیږه چی دغه څلور اعمال دی نه وی کړي:
لومړی- د قرآن شریف تر ختم کولو وروسته بیدیږه ؛
دوهم- ټول انبیأ علیهم السلام د ځان واسطه کړه ، بیا بیده سه ؛
دریېم- ټول مسلمانان له ځانه راضی کړه ، بیا بیده سه ؛
څلورم- یو حج او عمره وکړه ، بیا بیده سه ؛
وروسته رسول الله (ص) پر لمانځه ودرېدئ او زه په بستر کی پرېوتلم. کله چی نبی کریم (ص) د لمانځه څخه فارغ سو ، نو ما په تعجب سره پوښتنه ځنی وکړه چی یا رسول الله (ص) ! زما مور او پلار دی تر تا قربان سی ، په دونه لږ وخت کی دا څلور شیان څنګه امکان لری ؟

رسول الله (ص) د دې خبری په اورېدو سره موسکا وکړه او داسی یې وفرمایل: کله چی درې واره سورهٔ اخلاص [ یعنی قل هو الله احد ] ووایې ، نو لکه یو قرآن چی دې ختم کړ ؛ او کله چی پر ما او نبیانو باندی یو درود ووایې ، نو ټول انبیأ علیهم السلام به د قیامت په ورځ ستا سفارش کونکي او واسطه وی ؛ او کله چی د ټولو مؤمنانو لپاره استغفار وکړې ، نو ټول مسلمانان به درڅخه راضی سی ؛ او کله چی سبحان الله والحمد لله و لا اله الا الله و لله اکبر ووایې ، نو لکه یو حج او عمره چی وکړې.

هو ، که موږ او تاسو دغه وړیا ، آزموده او ثابته نسخه پر ځانونو تطبیق کړو نو په رښتیا به هم د نیکو ، متقی او محسنو انسانانو په ډله کی حساب سو چی هم به الله (ج) او هم به د هغه رسول

(ص) خوښ او راضي وی او په عین حال کی به مو تولنی او ماحول ته هم خیر رسولی وی. نو راځئ چی له همدې ننه د وړیا جنت ګټلو لپاره همدا اسی اراده او فیصله وکړو.

# د روژې پنځمه تحفه: [د ځواک انډول] او [د عقل زکات]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-07-24

معززو دوستانو، نبوي حدیث دی «چې کله روژه راورسیږی نو شیطانان بندي کیږی، د دوږخ ټولی دروازې تړل کیږی خو د جنت ګرده دروازې خلاصیږی. ناره کونکی ږغ کوی چی اې د خیر غوښتونکې، مخته راسه او اې د بدۍ غوښتونکې، پر شا سه. دا کار هره ورځ جاري وی». نو الله دې بدۍ نابود او ښېګڼې موجود کړی. دا یې هم پنځمه تحفه ؛ مأخذ: اخلاقی کنایې.

## د ځواک انډول

مجاهد (رح) وایی چې رسول الله (ص) یو ځای ته تشریف وړی چې پر لارې یې ځو کسان ولیدل چې د درنې ډبری په پورته کولو سره یې یو د بل طاقت او قدرت معلوم کاوه. رسول الله (ص) ورته وفرمایل: یو شی تر دغه ډبری هم ډیر درونددی چې د ځواک پرتلنه د هغه په ارتباط بهتره ده. هغوی عرض وکړ چې هغه څه شې دی؟ رسول الله (ص) وفرمایل: هر کله چې دوه وروڼه د کومی مسألې په سر شخړه او دښمني ولری او شیطان پر هغوی دواړو بریمن سی، نو که دا مهال یو د هغوی څخه (خپل عارضی عزت او ذلت ته په نه پاملرنه سره صرف د الله د رضا په خاطر) هغه بل ورور ته ورسی او د هغه سره سوله وکړی او پخلا سی (د اړتیا پر مهال د هغه څخه عفو هم وغواړي) یا دا چې ځوک ډیر خښمېدلی او پارېدلی وی (سره له دې چې کولای سی خپل مقصد تر سره کړی) خو د الله په خاطر صبر وکړی (همدا د قدرت او طاقت د ښودلو اصلی ځای دی. (

هو، څومره عالی ارشاد او د ژوند عملی لارښود. څومره به ښه وی که د ځواک او قدرت لرلو سره سره مقابل طرف معاف کړو او د هغه سره بېله کوم شرط یا اسرې څخه پخلا سو، نو دین او دنیا دواړه به مو ګټلی وی. الله دې دغسی تقوا ټولو ته راکړی تر څو د رسول الله (ص) دغه او هره لارښوونه عملی کړو

# د عقل زکات

حضرت علی (رض) فرمایی:
۱ ـ پر ګناهونو پښېماني ګناهونه ختموی ، خو پر نیکو مغروره کېدل نیک ختموی ؛
۲ ـ هر شی زکات لری ، د عقل زکات د جاهلانو پر خبرو صبر کول دی ؛
۳ ـ په معافولو او بخښلو کی تلوار ستر شرافت دی ، خو په انتقام اخیستلو کی تلوار ستر رذالت دی ؛
۴ ـ د احمق شخص عقل د هغه د ژبی تر شا او د عقلمند شخص ژبه د هغه د عقل تر شا ده ؛
۵ ـ کومه خبره چی لا ستا په خوله کی وی ته یې مالک یې ، خو چی راووزي نو هغه دې مالِکه ده ؛
۶ ـ غیبت اورېدونکی او غیبت کونکی یو دی ، پر ظلم رضا یَت لرل پخپله د ظالم په معنیٰ دی.

هو ، د اسلام اصلی جوهر او ماهیت همدا دی. څوک چی دغه زرین ارشادات په اخلاص او صداقت سره عملی کړی هیڅ تاوان به یې نه وی کړی خو ډېره دنیوی او اخروی ګټه به یې ګټلې وی. که هر کار همدا سی په سړه سینه ، صبر ، حوصله او تعقل سره وکړو نو شخصیت به مو اکمل او عزت به مو اتمم وی ، انشاالله. که پر ګناهونو پښېمانه سو ، که د جاهلانو پر تعرض صبر وکړو ، که له انتقامه تیر سو او بخښنه وکړو ، که خپله ژبه سمه او سالمه استعمال کړو ، او که د چا غیبت ونکړو او نه د غیبت کونکې سره خپل سر وښوروو نو څه زیان به مو کړی وی ؟آیا وجداناً او روحاً به آرام ، هوسا او بېغمه نه یو ؟ راځی چی همدا نن ټینګه اراده او فیصله وکړو تر څو دین او دنیا مو تأمین او تضمین وی ، انشاالله .

# د روژې شپږمه تحفه : [فرشته د مظلوم مرستندوی وی] او [مخکی له دې چی ناوخته سی]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-07-25

عزتمنو لوستونکو ، قدسي حدیث دی چی « الله تعالی فرمایي چی د انسان ټول اعمال د هغه لپاره دي ، خو روژه زما لپاره ده او زه یې اجر ورکوم. روژه د ګناهونو مخه نیسی. نو څوک چی روژه ولری باید له بد ویلو ، چیغو نارو او جاهلانه اعمالو څخه ځان وساتی. که څوک ښکنځل ورته وکړی ، یا جنګ ورسره کوی ، ځواب دې نه ورکوی بلکی دوه ځله دې وو ایی چی زما روژه ده.» او دا هم شپږمه تحفه ( ستاسو د دعاوو محتاج: ن. صمد ) ؛ مأخذ: د لیکوال ناچاپه اثر ( اخلاقی کنایې (
.

## فرشته د مظلوم مرستندوی وی

یو وخت د رسول الله (ص) په حضور کی یو چا ابوبکر صدیق (رض) ته ښکنځل او پوچ وویل. نبی کریم (ص) او ابوبکر (رض) دواړه پټه خوله وو او هیڅ غبرګون یې نه ښکاره کاوه. خو کله چی هغه سړی چپ سو نو ابوبکر (رض) یې ځواب ووایه. دا مهال رسول الله (ص) وپاڅېد او غوښته یې چی تشریف یوسی چی ابوبکر (رض) یې علت وپوښتی. رسول الله (ص) ورته وفرمایل چی تر کومه وخته چی تا سکوت کړی و او څه دی نه ورته ویل نو ستا پر ځای ملایکی د هغه ځواب وایه لاکن ستا لخوا تر غبرګون ښودلو وروسته ملایکه ولاړه او شیطان راغی. نو ځکه زه هم ولاړ سوم چی روان سم. وروسته یې داسی وفرمایل: درې شیان یقینی او حتمی دي:

لومړی-که مظلوم د الله د خوښۍ لپاره ظالم وبخښی نو د مظلوم عزت ډیریږی ؛
دوهم-هر څوک که د مال او دولت په خاطر فقر شروع کړی نو تل به همداسی فقیر وی ؛
دریيم-هر څوک که د الله د خوښۍ لپاره عطأ او بخشش وکړی نو الله یې پر مال برکت نازلوی.

هو ، اسلام بیا هم پر صبر ، حوصله او تحمل باندی ټینګار کوی نه پر منفی غبرګون ، عکس العمل او ځواب. روژه مبارکه د همدې زغم او حوصلې د ښودلو میاشت ده ، نه د جدل ، ښکنځل او یرغل

میاشت. ژوند ډیر لنډ دی او د سترګو په رپ کې درومي. نو ښه به دا وي چې د رسول الله (ص) وصیت او نصیحت له همدې نن څخه عملاً او ارادتاً پیل کړو تر څو بایللې تقوا بیرته وګټو.

## مخکې له دې چې ناوخته سي

رسول الله (ص) څو مره عالي ، منطقي ، عیني او آفاقي لارښوونه کړې ده ، یعنې:
د پنځو فرصتونو څخه د هغوی تر زوال مخکې ګټه واخله:
د خپلې ځوانۍ څخه مخکې له دې چې زوړ سې ؛
د خپلې روغتیا څخه مخکې له دې چې ناروغ سې ؛
د خپلې شتمنۍ څخه مخکې له دې چې غریب سې ؛
د خپل فارغ وخت څخه مخکې له دې چې مصروف سې ؛
د خپل ژوند څخه مخکې له دې چې مړ سې.

هو ، که دغه نبوي ارشادات عملاً پیل کړو نو دومره معنوي او قلبي ګټه به مو کړې وي چې انتها نلري. دا په رښتیا هم د ژوند کولو اصلي راز ، د بریالیتوب اصلي نسخه او د آینده بهترین ضمانت دی. که ځوانان یو ، نو باید پرې نږدو چې ځواني د سترګو په رپ کې را څخه ضایع سی ؛ که نن جوړ او روغ یو ، باید خپل الهي او دیني پور د ناروغۍ مهال ته پرې نږدو ؛ که نن لږ یا ډیر شتمن یو ، نو باید خپل انساني مسؤلیتونه د غربت مهال ته پرې نږدو ؛ که نن وخت او فرصت لرو ، نو باید هر څه هغه مهال ته پرې نږدو چې د مصروفیت له امله «د سر ګرولو ته هم خلاص نه یو» ؛ او دا چې همدا نن ژوندي یو ، باید هغه اعمال وکړو چې لپاره یې دې دنیا ته راغلي یو ، دا سې نه چې هر څه را څخه تیر سی. ځکه نو نن د عمل ورځ ده بېله حسابه ، خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله!

# د روژې اوومه تحفه [شپږ ډوله کسان دوږخي دي] او [دغه او هغه اور]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-07-26

رسول الله (ص) فرمایي: « څوک چې د الله لپاره یوه روژه ونیسي ، نو الله يې د اویا کلونو په اندازه د دوږخ له اوره لیرې کوي». نو څومره به ښه وي چې د هغه ذات امر عملاً ومنو چې ژوند او هر هغه څه يې راکړي دي چې همدا نن يې لرو ! دا هم د اوومې روژې لپاره اوومه تحفه ؛ ( ستاسو د دعاوو محتاج: ن. صمد

## شپږ ډوله کسان دوږخي دي

رسول الله (ص) فرمایلي دي چې شپږ ډلې خلک د خپلو کړغیړنو اعمالو له امله دوږخ ته اچول کیږي:

۱ ـ واکمنان او حاکمان د ظلم او ستم له امله ؛
۲ ـ عرب د قوم پرستۍ له امله ؛
۳ ـ شتمن او څواکمن کسان د خپل غرور او تکبر له امله ؛
۴ ـ سوداګر او تاجران د خیانت او خطا ایستلو له امله ؛
۵ ـ کلیوال خلک د خپل جهالت له امله ؛
۶ ـ علمأ د حسادت له امله [ مطلب د هغو علماوو څخه دی چې د دنیا او مقام په خاطر یو له بله حسد کوي ، که عالم د دنیا او دولت څخه بې نیازه وي او فقط د آخرت غوښتونکی وي نو بیا نه د چا سره حسد کوي او نه بل د ده سره حسد کوي. ]

هو ، په رښتیا هم که واکمن ظالم سي ، عرب ځانونه پر عجمو بهتر وګڼي ، بډایان په خپل ثروت مغرور سي ، تجاران ، کاروباریان او دکانداران مشتریان خطا باسي ، کلیوال د علم تلاښ ونکړي او علمأ له حسادته کار واخلي نو بیشکه چې د امت روانه کښتۍ به د ډوبېدو خوا ته ځي لکه همدا اوس چې ده. البته د خلاصون بهترینه چاره دا ده چې د رسول الله (ص) په دغو لارښوونو د زړه له

اخلاصه عمل وکړو چې نه پانګه غواړي او نه پور ، نه مرسته غواړي نه زور. بلکې صرف او صرف یوه صادقانه اراده غواړي او بس .

## دغه او هغه اور

کله چې د بوکس نړیوال اتل محمد علی کلې په ۱۹۷۰ لسیزه کې مسلمان سو ، نو یو جهانی محبوبیت یې حاصل کړ. محمد علی وروسته له دې ډیر متقی او عابد مسلمان و.
یوه ورځ یو چا پوښتنه ځنې وکړه چې ته خو په ملیونونو ډالره او هر ډول نعمتونه لرې ، هر ډول عیش او عشرت او آسانتیاوی درته آماده دي ، هر ډول قمار ، ساعتیری ، نجونې او شراب درته مهیا دي. آیا ته د دغو ټولو لذتونو څخه خوند نه اخلې او آیا کله کله دغو شیانو ته مراجعه نه کوې ؟

محمد علی کلې دا مهال د جېب څخه اورلګیت را وکیښ او هغه یې ورښکاره کړ ، او داسې یې ورته وویل: کله چې مې کومې ګناه ته میلان پیدا سی ، نو د دغه اورلګیت یوه خاشه ولګوم او خپله یوه ګوته ورته ونیسم چې یو څه وسوځی. نو د سوځېدلو دغه حالت سمدلاسه د دوږخ اور را په یاد کړی او ځای پر ځای د ګناه آن تصور لا هم را څخه ورک سی. دا چې د دې دنیا د یوې خاشې د ومره بې طاقته اور دی ، نو د هغې دنیا یعنی دوږخ د اور به څه حالت وی ؟ نو همدا اورلګیت زما خبرداریځ او پوهاوئ دی او ځکه نو سخت احتیاط کوم.

هو ، لویدیځوال چې کله په اسلام مشرف کیږی ، نو په همدغسی تقوا ، ایمان او صداقت سره اسلام خپلوی او هغه هضموی لکه بلال فلپس ، عبدالرحیم ګرین ، یوسف ایستېس ، ګیری میلز ، مرحوم جادالله قرآنی او په سلګونو نور پرهیزګاران. الله(ج) دی هغو مسلمانانو ته هم دغسی اسلامی روحیه او جذبه په نصیب کړی چې له ذاته مسلمانان دي تر څو د تش په نوم اسلامیت څخه اصلی او واقعی اسلامیت ته ارتقا وکړی.

# د روژې اتمه تحفه : [حسد اول حاسد زیانمن کوی] او [د روح او جسم دعوه]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-07-27

ګرانو دوستانو ، د تیر کال روژه خو د سترګو په رپ کی تیره سوه. څومره خپلوان ، دوستان ، ملګري او نا آشنا کسان سږ کال نسته او تر تورو خاورو لاندی دي ؟ څه ضمانت سته چی موږ او تاسو به روانه روژه پوره کړو ؟آیا آینده روژه به ژوندي یو ؟آیا دا به مو وروستۍ روژه نه وی ؟ څوک یې ضمانت کولای سی ؟ نو راځی چی دا ثابته کړو چی موږ د نفس بنده نه بلکی د نفس واکوال یو . په همدې تمه د روژې اتمه تحفه درته وړاندی کوم ( ن. صمد (

## حسد اول حاسد زیانمن کوی

ابو اللیث (رح) فرمایلی دي چی حسد تر ټولو بدیو خطرناک دی. ځکه ، مخکی له دې چی د حاسد اثر پر محسود ولویږی ، حاسد پخپله په پنځو شیانو مبتلا کیږی:
لومړی- غم او پریشاني یې نه ختمیږی ؛
دوهم- په داسی مصیبت مبتلا وی چی هیڅ ثواب نلری ؛
دریم- حاسد د هر چا د توصیف نه بلکی بد ویلو وړ وی ؛
څلورم- حاسد په دې کار سره خدای له ځانه ناراضه کوی ؛
پنځم- د توفیق دروازه پر حسود باندی تړل کیږی.

هو ، په ربښتیا هم دا هره ښېګڼه او الهی پیرزوینه ډیره حیاتی ده خو حاسد یې وړیا له لاسه ورکوی. نو طبعاً باید خوار ، ذلیل او تل غمجن ، د الله د عذاب وړ او دین او دنیا یې خرابه وی. اسلام په دینی علم کی د رغنده حسد څخه پرته نور هر ډول حسد منع کړی دی. خو نن موږ په سترګو وینو چی حاسدان دومره مقابل لورئ نه زیانمن کوی څومره چی خپل ځان زیانمنوی او په لوی لاس خپل زړه خوری. نو الله دې یې اصلاح کړی.

# د روح او جسم دعوه

حضرت ابن عباس (رض) فرمايي چې روح د جسم سره دعوه کوی او داسی ورته وايي: هر څه چې سوي دي ، تا کړي دي. جسم بيا داسی ورته وايي: تا به هدايت راکاوه. تا چې به کوم عمل ښه راته و اېساوه ما به هغه کاوه.
د جسم او روح د خپل منځي استدلال د قضاوت لپاره لوی خدای يوه ملايکه راليږی چې هغه دواړو ته داسی وايي: ستاسو دواړو مثال داسی دی لکه کوم ګوډ چې ړانده ته وو ايي چې ما يو ځای ميوه ليدلې ده خو نسم کولای چې هلته ورسم. ړوند ورته وو ايي چې ته زما پر ملا سپور سه او هغه ميوه وشکوه.

فرشته د دې تمثيل څخه وروسته روح او جسم ته داسی وايي: اوس راته وواياست چې د دغو دوو کسانو څخه کوم يوه له حده تيری کړی دی ؟ نو روح او جسم ورته وايي چې دواړو برابر تيرئ کړی دی.
دا مهال فرشته ورته وايي چې تاسو دواړو هم يو بل ته هدايت کړی دی ، يعنی جسم د روح د انتقال وسيله وه او روح هم د جسم له پاسه سپور و . نو ځکه دواړه برابر مقصر ، ګناهکار او مجرم ياست.

هو ، الله تعالی دومره مهربان او رحيم دی چې تر زکندن پوری توبه قبلوی او موقع راکوی. د مړينی او زکندن پر مهال نور نو د توبې دروازه تړل کيږی. ځکه به نو هر مجرم ، جنايت کار ، قاتل ، زانی ، ظالم ، حق خور ، ګنهکار او فاسد انسان د خپلو ګناهونو په سمندر کی ډوبيږی او د خپل عمل په سزا به رسيږی. خو بيا هم وختی دی ، بايد پرې نږدو چې ناوخته سی او د توبې دروازه راڅخه بنده سی.

# د روژې نهمه تحفه : [درې ایمانی عادتونه] او [که دا نه کېږی ، هغه وکړه]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-07-28

درنو لوستونکو ، روژه یوازی بدني اړخ یعنی د خوړلو ، څښلو او جماع څخه ډډه نه ده ، بلکی معنوی او اخلاقی اړخ هم لری چی هغه د زړه ، دماغ او ژبی کنټرول دی. غیبت کول ، درواغ ویل ، سترګی او غوږونه د ناروا څخه نه کنټرولول او د هرډول حرامو څخه نه پرشا کېدل روژه ماتوی. حدیث دی چی: ځینی کسان داسی روژه نیونکی وی چی د خپلو روژو څخه یې صرف لوږه په نصیب وی او بس. نو د دغسی بدلون او سمون په هیله د روژې نهمه تحفه قبوله کړئ (ن. صمد ) ؛ مأخذ: د لیکوال ناچاپه اثر ( اخلاقی کنایې. (

## درې ایمانی عادتونه

یحیی بن معاذ (رح) فرمایی چی که درې ایمانی عادتونه ولرې نو د محسنانو ( الله خوښونکو ) په ډله کی به حساب سې:
لومړی- که نسې کولای چی خلکو ته ګټه ورسوې ، نو زیان مه ور رسوه ؛
دوهم- که نسې کولای چی خلک خوشاله کړې ، نو خوابدي کوه یې مه ؛
درییم- که نسې کولای چی د خلکو تعریف او صفت وکړې ، نو بد یې هم مه بیان کوه.

هو ګرانه لوستونکې ! که موږ او تاسی عمیقاً متوجه سو ، دا څومره پخه خبره او د کاڼی کرښه ده. که چا ته ګټه نه رسوو ، ولی یې زیانمن کړو ؟ که څوک خوشالولای نسو ولی یې ناحقه خپه کړو ؟ که د چا ښه نه وایو ، بد یې ولی باید ووایو ؟ نو که موږ او تاسو په رښتیا هم دغه درې عادتونه خپل کړو څومره به وجداناً آرام او د الله د رضایّیت وړ یو ؟! د دغو عادتونو لرل په بیه نه بلکی مفت دي ، صرف را اخیستل غواړی.

# که دا نه کیږی ، هغه وکړه

یو پوه حکیم داسی ویلی دي: اې انسانه ! که ته درې عملونه نسې کولای ، نوبیا درې نور عملونه اجرا کړه ، یعنی:

لومړی۔که د نورو سره نیکی نسې کولای ، نو د بدی څخه پرهیز وکړه ؛

دوهم۔که خلکو ته ګټه نسې رسولای ، نوهغوی د خپل شر څخه وژغوره ؛

دریم۔که روژه نسې نیولای ، نو د خلکو غوښې مه خوره ( یعنی غیبت مه کوه. (

هو ، د اسلامیت او انسانیت دا حُکم دی چې د چا سره بدي ونکړو ، شر ور پیښ نکړو ، او غیبت یې ونکړو. په دریمه ماده کی یوه ډیره عمیقه او باریکه فلسفه پرته ده چې د سرېتوب اساس دی. په رښتیا هم که دا درې عملونه اختیار کړو ، نو ځان او جهان به مو آرام ، هوسا او خوشاله وی. نه به تشویش وی او نه هم پریشانی ؛ بلکی خوښی ، تازه ګي او کامیابي به وی انشاالله.

# د روژې لسمه تحفه: [چغلیګر او غیبت کوونکی تجرید کړه] او [څه بايد وکړو ؟]

تهیه کوونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-07-29

روژه یوازې د خوراک ـ څښاک څخه ډډه نه بلکې د ژبې ، زړه او نورو اعضاوو سم استعمال هم پکښې شامل دی. نو راځئ چې پوخ تکل وکړو چې غیبت به نه کوو ، دروغ به نه وايو ، سترګې او غوږونه به د ناروا څخه ساتو ، ظاهر او باطن مو تصفیه کوو. رسول الله (ص) فرمايي: « هغه څوک چې دروغ او پر هغه عمل نه پرېږدي نو الله هم د ته هېڅ ضرورت نه لري چې صرف خوراک او څښاک بند کړي». او دا هم د لسمې روژې لپاره لسمه تحفه (ن.صمد: (

## چغلیګر او غیبت کوونکی تجرید کړه

ابو اللیث سمرقندی (رح) وفرمایل: که څوک درته ووايي چې فلانی شخص تا ته ښه نظر نلري ، بې احترامي دې کوي یا منفي خبري او بد درپسې وايي ، نو د هغه په ځواب کې پر تا شپږ شیان لازم دي ، یعنی:

لومړی ـ پر هغه اعتماد او باور مه کوه (چغلې ګر د باور وړ نه دی ) ؛

دوهم ـ هغه د دې ډول خبرو څخه منع کړه (د بدو کارونو څخه د نورو منع کول پر مسلمانانو واجب دی ) ؛

درېیم ـ د هغه د دې کار (چغلیو ) له امله د الله د رضا لپاره د هغه په مخ کې خپله غوصه او ناخوښي څرګنده کړه (کتې متې لکه الحُب فی الله یعنی د الله د رضا لپاره محبت کول چې د خوښۍ وړ دی ، نو البُغض لله یعنی د الله د رضا لپاره بغض کول هم د خوښۍ وړ دی ) ؛

څلورم ـ د چغلې ګر د خبرو په اورېدو سره پر خپل دینی ورور باندی مه بد ګومانه کېږه (ځکه پر مسلمان باندی بد ګومانه کېدل حرام دی ) ؛

پنځم ـ چغلیګر چې کومه خبره یا موضوع درته ووايي ، هغه مه سپینوه یعنی په هغه باره کې تحقیقات مه کوه (ځکه الله تعالی تجسس منع کړی دی ) ؛

شپږم ـ هر څه چې د چغلې ګر لپاره نه خوښوې پخپله هم هغه مه کوه (یعنی دا خبره بل چا ته مه انتقال کوه. (

هو ګرانه لوستونکې ، ځو مره عالی حقیقت او نصیحت. ځو مره عالی لارښوونه او روزنه. ډیرئ مسلمانان خصوصاً افغانان د چغلیو او غیبت په مزمن مرض مبتلا دي. نو که په رښتیا هم موږ او تاسی دغه شپږ طلایی سوغاتونه خپل کړو ، په واقعیت کی به مو اسلام هضم کړی وی. ضمیر ، باطن ، دین او دنیا به مو ځلانده او رپانده وی انشاالله ، که نه هر څه به هغسی وی لکه فعلاً چی دي . نو را ځی چی هغه ځوک تجرید او تردید کړو چی د بل چا خبري راته کوی یعنی د غیبت او چغلیو مخالفت او ممانعت یې وکړو تر څو الله تعالی خلاصون او سمون راعطأ کړی ، انشاالله.

## څه باید وکړو ؟

علمأ وایی چی د دنیوی فتنو او د سیسو څخه د خلاصون بهترینه چاره دا ده چی:

۱ ـ که ویل کوې نو کلمه وایه ؛

۲ ـ که جوړول کوې نو مسجد جوړ کړه ؛

۳ ـ که جنګېدل کوې ، نو د شیطان سره وجنګیږه ؛

۴ ـ که ژغورل غواړې نو د درواغو څخه ځان وژغوره ؛

۵ ـ که بیربدل غواړې نو له خدایه وبیربږه ؛

۶ ـ که مینه غواړې نو د رسول الله (ص) سره مینه ولره ؛

۷ ـ که هیله لرې نو د جنت هیله من اوسه ؛

۸ ـ که ګټل غواړې نو زړونه وګټه ؛

۹ ـ او باالاخره که سمون غواړې نو آخرت دې سم کړه.

هو ، که مو اکثرأ کلمه پر خوله جاري وی ( د بیکارۍ او فراغت پر مهال ) نو څه تاوان به مو کړی وی ؟ که مسجد نسو جوړولای اقلاً ( لږیا ډیره ) بسپنه خو ورکولای سو ؛ که د شیطان د خوښې وړ کارونه ونکړو څه زیان به مو کړی وی ؟ که ځانونه له درواغو وژغورو ( هغسی لکه په ژبه چی یې ادعا کوو ، عملاً یې هم مراعات کړو ) څه نقص به مو کړی وی ؟ که تل په رښتیا هم له خدایه وبیربږو نو څه مشکل به راپیښ سی ؟ که د رسول الله (ص) سره مخلصانه مینه ولرو د څه تکلیف سره به مخامخ یو ؟ که جنت د ښه اعمالو په بدله کی وغواړو څه ستونزه به وی ؟ که د خلکو زړونه وګټو څه مزاحمت به را ته پیښ سی ؟ او که باالاخره د پورتنیو اعمالو د کولو په نتیجه کی خپل آخرت سم کړو نو آیا هر څه به مو نه وی ګټلی ؟ الله او د هغه رسول به نه وی را څخه راضی ؟ ځکه نو موږ وایو چی نن د عمل ورځ ده بېله حسابه ، خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله ! نو که هر ځوک

دغه نسخه امتحان کړی ، دنیا او عقبا به یې انشاالله آرامه ، آسانه او روښانه وی. لوی خدای دی مونږ او تاسو ټولو ته دغسی توفیق را عطا کړی.

# د روژې يوولسمه تحفه: [د الهی رحمت څخه محروميت] او [پنځه پخې وجيزې]

تهيه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-07-30

پوهانو ويلی چی د بدن غذا خوراک دی خو د روح غذا بيا عبادت دی. نو ځکه روژه زړه او روح صفا کوی. روژه يو الهی نعمت ، عبادت او امانت دی. نو الله تعالی موږ امتحانوی چی آيا په دې امانت کی صادقان يو که خاينان؟ ! الله تعالی فرمايي: « او چا چی زموږ په لار کی جهد او محنت وکړ ، نو موږ به هم هرو مرو لار ور وښيو » ( العنکبوت۔ ۶۹ ) . او دا هم د يوولسمی روژې تحفه ( ن. صمد : (

## د الهی رحمت څخه محروميت

علماوو او فقهاوو ويلی دي چی په هر هغه مجلس کی چی دغه درې شيان موجود وی ، هغه مجلس د الهی رحمت څخه بې برخي کيږی:

- لومړی۔د دنيا ذکر او خبری؛
- دوهم۔خنداوی؛
- دريیم۔غيبت.

هو ، موږ او تاسی شاهد يو چی د اکثريت افغانانو د مجلسونو محور همدا درې شيان وی. هر مجلس آن په فاتحو او ختمونو کی هم زموږ مجلسونه د دنيوی منافعو يا سياست پر محور را ګرځی ، خنداوی وی او د غيبت بازار ښه تود وی. په دې هم شاهدان يو چی هر دغسی مجلس کم دوامه او بې دوامه وی او کومه خاصه ګټه په بر کی نلری ښېله کدورته. د دغسی حالت څخه خلاصون ډير اسانه دی او هغه يوه ايمانی اراده او قطعی فيصله غواړی. نو الله دې موږ ټولو ته د دغسی واقعی ارادې او فيصلې توفيق راکړی.

# پنځه پخې و جیزې

یو عالم داسی وایی:

۱ ـ ژبه که څه هم توره نه ده ، خو تر توري ډیره تېره ده ؛

۲ ـ خبره که څه هم غشی نه دی ، خو تر غشي ډیر عذاب او درد لری ؛

۳ ـ قهر او غضب که څه هم زمری نه دی ، خو تر زمري ډیر وحشتناک او داړونکی دی ؛

۴ ـ نشه که څه هم مار نه دی ، خو تر مار ډیره خطرناکه ده ؛

۵ ـ ګناه که څه هم زهر نه دی ، خو تر زهرو ډیره وژونکې او محوه کونکې ده.

هو ، که موږ دغو عینی او ترخو واقعیتونو ته عمیقاً ځیر سو ، په ربښتیا هم دا تباه کونکیٌ لورئ دی. متل دی چی د توری ټپ جوړېدای سی خو د ژبی ټپ نه جوړیږی ؛ قهر او غضب له انسانه حیوان جوړوی ؛ نشه تر مار هم تیره نېښ لری ؛ او ګناه د شیطان مرمۍ ده چی انسان په هغه سره وژنی. نو لوی خدای دی هر مسلمان ، منجمله افغان ورځخه وساتی او مبتلا کسانو ته دی الله(ج) ژر تر ژره نجات ورکړی. خو اراده او توبه شرط ده.

# د روژې دوولسمه تحفه: [له حسده د خلاصون طریقه] او [د رسول الله (ص) نصیحت]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-07-31

روژه د الله یو امانت دی. په دې امانت کی جسماني او نفساني دواړه قیودات، تحدیدات او مقررات شامل دي. نو ځکه روژه د مکافاتو او مجازاتو په منځ کی ده. الله تعالی دی د هغې د ټولو شرایطو د سم مراعاتولو توفیق او توان راکړی. په همدې هیله لطفاً د دوولسمی روژې لپاره دوولسمه تحفه قبوله کړئ (ن. صمد):

## له حسده د خلاصون طریقه

رسول الله (ص) داسی وفرمایل: کینه او حسد نیکۍ داسی محوه کوی لکه اور چی لرګي سوځوی.
او هم یې وفرمایل: اکثره انسانان په درو شیانو مبتلا دي چی هغه بد ګوماني، حسد او بد فالي (بد فال نیول) دی.
ورڅخه وپوښتل سوه چی آیا د دغو درو له شره د نجات کوم تدبیر هم سته؟ ویې فرمایل:

۱ ـ خپل حسد (حسادت) د چا په وړاندی مه څرګندوه او د هغه انسان بدي چی حسادت ورسره کوې، مه بیانوه.
۲ ـ هر کله که د یوې مسألې په سر پر کوم مسلمان بد ګومانه سوې، تر څو چی پخپله دې مشاهده کړی نه وی، صحیح یې مه بوله.
۳ ـ که کومی خوا ته روان یې او پر لاره چنجی یا کاغۍ (کارګه) ووینې، یا د بدن کوم عضو (مثلاً سترګه، غوږ او نور) دې وریږدی، نو په باک یې مه راوړه او خپل سفر ته دوام ورکړه (یعنی د دغسی شیانو په لیدو سره بد فال مه نیسه او د وړاندی تللو څخه بیره مه لره او د بیرته راګرځېدو فکر مه کوه). په دې ډول به د دې ټولو له شره بېغمه یې.

هو، حسد بل څوک دومره نه زیانموی لکه پخپله چی حاسد زمولوی او رڅوی. په رښتیا هم حسد هغه میکروب دی چی حاسد تل په مبتلا وی او په لوی لاس خپل زړه او خپل ژوند خوری. بد

ګوماني داسې مزمن مرض دی چې د انسان خصوصاً مسلمان وجدان شوړوی ، باطن یې خوړوی او دین یې ورانوی. بد فالي د شِرک لومړنی اساس دی چې صغیره ګناه باالاخره کبیره ګناه ته لوړوی. نو که موږ او تاسې د رسول الله (ص) پورتنی نصیحت په اخلاص او صداقت سره مرعی الاجرا کړو ، دین او دنیا به مو انشاالله تأمین او تضمین وی.

## د رسول الله (ص) نصیحت

رسول الله (ص) د یو مسجد څنګ ته روان و ، څو کسان یې ولیدل چې دنیوی خبری یې سره کولې او په لوړ ږغ یې خندل. رسول د خدای هغوی ته د سلام څخه وروسته داسې وفرمایل: اې خلکو ! موت ( یعنی مرګ ) در په یاد کړئ. بس همدا یې وویل او روان سو . څه ګړی وروسته بیرته پر هماغه لاره را روان و او هماغه خلک یې په هماغه حال کی ولیدل. نو داسې یې وفرمایل: د الله په عزت می قسم په هغه څه چی زه خبر یم ، که تاسو ته معلوم سی نو خورا لږ به وخاندئ او ډیر به وژاړئ. همدا یې وفرمایل او تشریف یې یووړ.

تصادفاً رسول الله (ص) یو ځل بیا پر همدې لاره تیر سو او هماغه خلک یې بیا په هماغه حالت کی ولیدل. نو داسې یې وفرمایل: اسلام په لومړي سر کی غریب او بیګانه و ، او په پای کی به هم غریب او بیګانه سی. په رښتیا هم چی غریبان طالع من دي. خلکو وپوښتل چی د غریبانو څخه مو مطلب کوم کسان دي ؟ ویې فرمایل: هغه خلک دي چی د امت د فساد پر مهال بیا هم پر دین ټینګ وی.

هو ، نن تر بل هر مهال همدا فتنه پر مسلمانانو مسلطه ده او ډیرئ کسان پکښی راګیر دي. حق د ظلم یرغمل دی او حقیقت د منافقت لخوا بندي دی. دا چی د رسول الله (ص) په وړاندی داسې بی پروایی کېدله ، نن به حالت له څه قراره وی ؟! همدا میاشت د استغفار ، پرهیز او توبې میاشت ده او ښه به دا وی چی را څخه ضایع او ناوخته نسی .

# د روژې دیارلسمه تحفه: [اووه پخې خبرې] او [د طبیب الهی عشق]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-01

رسول الله (ص) داسی فرمایلی دي: « هر شی زکات لری ، خو د بدن زکات روژه ده » . بیا داسی فرمایی: « څوک چی د رمضان د میاشتی یوه روژه بېله عذره یا بېله ناروغۍ څخه وخوری ، په ټول وخت کی یې جبران نسی ادا کولای » . د همدې نبوي پوهاوي په هیله لطفاً د روژې دیارلسمه تحفه قبوله کړئ ( ن. صمد . )

## اووه پخې خبرې

ابو عبدالله القرشی (رح) داسی فرمایی: یو شخص د اوو پوښتنو لپاره اووه سوه میله سفر وکړ تر څو یو عالم ته ورسی او هغه یې ځوابونه ورکړی. کله چی هغه عالم ته ورسېد نو ورڅخه ویې پوښتل چی هغه څه شی دی چی:

۱ : تر آسمان هم ډېر درونددی ؟ ؛ ۲: تر مځکی هم ډېر پراخ دی ؟ ؛ ۳: تر ډبری هم ډېر سخت دی ؟ ؛ ۴: تر اور هم ډېر سوځونکی دی ؟ ؛ ۵: تر برزخ هم ډېر یخ دی ؟ ؛ ۶: تر دریاب هم ډېر زلال دی ؟ ؛ ۷: تر یتیم هم ډېر کمزوره او تر زهرو ډېر وژونکی دی ؟

عالم په ځواب کی داسی ورته وویل:

۱ : پر یو پاک انسان باندی تهمت تړل تر آسمان هم درونددی ؛

۲ : حق تر مځکی هم ډېر پراخ دی ؛

۳ : د کافر زړه تر ډبری هم ډېر سخت دی ؛

۴ : حرص ( طمع ) تر اور هم ډېر سوځونکی دی ؛

۵ : د نورو څخه خپله اړتیا غوښتل تر برزخ هم ډېر سوړ دی ؛

۶ : قانع زړه (صابر زړه ) تر دریاب هم ډېر ژور او زلال دی ؛

۷ : د چغلۍ رسوا کېدل تر زهرو هم ډېر وژونکی دی او دغه مهال چغلي ګر تر یتیم هم ډېر کمزوره او ذلیل وی.

هو ، په یو ښه انسان پورې تور تړل واقعاً هم ډېر سخت او درونددی تمامېږی ، حق په رښتیا هم ډېر ارت او عظیم ارزښت دی ، د کافر ( هغه چی د اسلام او مسلمانانو شعوری دښمن وی ) زړه په

رښتیا هم تر کاڼي سخت یعنی ډیر بې رحمه وی ، حرص او طمع باالکل د انسان زړه سوځوی ، بل ته خپل احتیاج څرګندول واقعاً چی انسان وجداناً او جسماً یخځ کوی ، قانع او صابر انسان همیشه له هر مصیبت او درده ښغمه وی ، او د چغلیګر رسوا ینه ( که احساس او وجدان ولری ) د مرګ حیثیت لری. نو څومره به ښه وی که د دغسی نا مطلوبو او ناوړو کارونو څخه ځانونه وژغورو ؛ وجداناً او روحاً خوښ ، راضی او ډاډه اوسو او په هغه څه کی دخالت ونکړو چی الله هماغه شان لازم بللی وی یعنی د الله تعالی په اراده کی منفی مداخله ونکړو .

## د طبیب الهی عشق

یوه ورځ حضرت علی (رض) د بصرې په بازار کی تیرېدئ چی ډیره ګڼه ګونه یې ولیده. ویې پوښتل چی هلته څه خبره ده ؟ ورته وویل سوه چی دا د یو طبیب معاینه خانه ده او دغه ټول راغونډ سوي خلک ناروغان دي.

د دې خبری په اورېدو سره حضرت علی (رض) هم هغې خوا ته ورغی او هلته یې یو ښایسته ځوان ولیدئ چی پر یوه څوکۍ ناست و او مریضانو ته یې نسخې لیکلې.

حضرت علی (رض) مخته ورغی او طبیب ته یې داسی وویل: اې طبیبه !آیا داسی دوا درمعلومه ده چی د ګناهونو څخه منځته راغلي ناروغۍ جوړی کړی او د زړونو څخه د غفلت زنګ ایسته کړی او په نتیجه کی محب د محبوب سره وصل کړی ؟

د دې خبرو په اورېدو سره طبیب چپ سو ، سر یې کښته ونیوئ او په سوچونو کی ډوب سو. پسله څو لحظو یې سر راپورته کړ او داسی یې ورته وویل:
د اسلام باغ ته تشریف یوسئ، او هلته د ایمان ونه پیدا کړئ ، د عشق او محبت پاڼې ، د اخلاص ښاخونه او د یقین میوې یې په محراب کی د سجدې پر ځای کښیږدئ او هلته یې اوړه کړئ. که اوبو ته ضرورت پیدا سو نو هغه اوښکی چی د خدای له بیری توی سوي وی په هغه کی ګډي کړئ. وروسته یې د کفن د صافي څخه صاف کړئ او د قبر تیارې ته یې یوسئ او هلته یې په داسی حال کی وخورئ چی څوک مو و نه وینی. همدا د ګناهونو د زیږنده ناروغۍ دوا ده. په خدای چی انشاالله همدا یې نسخه او چاره ده.

طبیب د دې نسخې تر بیانولو وروسته فریاد وکړ او ځای پر ځای وفات سو او روح یې په رښتیا هم د خپل معشوق خوا ته والوتله. حضرت علی (رض) د دې صحنې او پیښی په لیدو سره ډیر متأثره

سو او د هغه جسد یې داسی مخاطب کړ: په خدای چی همدا ته یې چی د دنیا او آخرت طبیب یې.
وروسته یې د دغه الهی عاشق د تکفین او تدفین چاری تر سره کړې او په زیاتو دعاوو سره یې
ونازاوه.

هو ، هغه طبیبان خو تقریباً ټوله د خدای واقعی دوستان ، ولیان او مبارک اشخاص وو ، خو د
یوویشتمی پیړۍ اکثریت طبیبان دومره متمدن او سیکولر سوي دي چی ډیرئ یې نه لمونځ کوی
او نه هم روژه نیسی. نه زکات ورکوی نه خیرات..... نو طبیب چی پخپله ناروغ وی ، نه به یې په لاس
کی شفا وی او نه په زړه کی وفا!

# د روژې څوارلسمه تحفه: [د بدۍ په بدله کی سوغات] او [د مرگ ارزو]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-02

روژه د ټولو آسماني ادیانو د ظهور میاشت ده. روایت دی چی ټول الهی کتابونه په روژه کی نازل سوي دي: پر ابراهیم (ع) باندی صحیفې په روژه کی نازل سوي دي؛ پر موسی (ع) باندی تورات د روژې پر شپږمه نازل سوی دی؛ پر داود (ع) باندی زبور د روژې پر اتلسمه نازل سوی دی؛ پر عیسی (ع) باندی انجیل د روژې پر دیارلسمه نازل سوی دی؛ او پر محمد رسول الله (ص) باندی قرآن د روژې د لیلة القدر په شپه نازل سوی دی. نو دا هم د څوارلسمی روژې لپاره څوارلسمه تحفه (ن. صمد.)

## د بدۍ په بدله کی سوغات

یو چا حسن بصري (رح) ته داسی وویل: فلاني شخص ستا غیبت کاوه. حسن بصری (رح) هم د دې خبری په اورېدو سره د تازه خرماوو څخه ډکه سَوَده هغه ته ورورېه او داسی یې ورته وویل: خبر سوم چی خپلی نیکۍ دی ما ته رابخښلی دي، نو د هغه په عوض کی دغه معمولی خدمت لطفاً قبول کړه او دا چی نسم کولای ستا نیکۍ ټوله جبران کړم نو معذرت غواړم.
هغه سړي چی دا اخلاقی کنایه واورېده، پوه سو چی د ده غیبت یې کړی دی او دا یې بدله ده. بس له همدې شېبې څخه له غیبته بېزاره او نور نو اصلاح سو.

هو، قرآن او حدیث د یو چا لخوا د بل چا غیبت کول او هم د عیب لټونکي لخوا د بل عیب لټونه د دغه شخص لخوا د خپل مړه ورور د غوښو خوړلو سره تشبیه کړې ده. دا څومره پست او حیوانی عمل دی چی څوک د خپل مړه ورور غوښې وخوری. خو موږ او تاسی یې وینو چی ډېرئ کسان د غیبت داسی معتاد سوي دي لکه د سگریټو یا نسوارو. تقریباً هیڅ داسی مجلس به و نه وینو چی له غیبته خلاص وی. نو څومره به ښه وی چی سر له همدې لحظې خپل دغه بد بویه او متعفن عادت له ځانو لیری کړو او د خپلی ژبی څخه د کلا کار وا خلو نه د بلا.

# د مرګ آرزو

حضرت علیم کندی وایی چې: زه یوه ورځ د ابو عبس غفاری سره پر بام ولاړ وم. کله چې هغه یو قوم ولیدئ چې د وبا له بیری یې له ښاره کډه کول ، نو داسې یې وفرمایل: « اې وبا ! ما ځانته در وبوله. » هغه دا جمله درې واره تکرار کړه. کله چې ما د ده خبره واورېده نو ورته ومې ویل چې: آیا نه دی دې اورېدلې چې رسول الله (ص) به فرمایل چې هیڅوک باید د مرګ آرزو ونکړی ، ځکه چې د مړینې پر مهال د انسان اعمال قطع کیږی او د دې موقع له لاسه وځی چې توبه وباسې او د خدای رضا حاصله کړی ؟

هغه راته وویل چې: ما د پیغمبر (ص) څخه اورېدلې دې چې مخکې له دې چې دغه شپږ پیښې رامنځته سی مرګ وغواړئ:

۱ ـ د احمقانو حکومت ؛

۲ ـ د پست او نامرده کسانو ډیرښت ؛

۳ ـ د عدالت او قضا پلورل ؛

۴ ـ د انسان وژل عادی کېدل ؛

۵ ـ د صلهٔ رحمی نه مراعاتول ؛

۶ ـ د قرآن د ویلو او اورېدلو رواج د آوازې په توګه ( ابن عبدالبر ، مروزی ، احمد ، طبرانی. )

هو ، آیا نن پورتنې شپږ واړه موارد په تقریباً ټولو اسلامی هیوادو کی مسلط نه دي ؟ کوم اسلامی هیواد د دغو خبایثو څخه مبری او پاک دی ؟ پر کومه اسلامی ټولنه ( لږ یا ډیر ) نو موړې فتنې او د سیسې خپرې نه دي ؟ که مونږ خپل شا وخوا نظر واچوو ، نو همدا حالت به عملاً نافذ او قابض ووینو . همدا علت دی چې نه دعاوی قبلیږی، نه ګناهوی لږیږی ، نه اوضاع سمیږی ، نه فتنې کمیږی او نه عذاب ورک کیږی. خو که هر فرد اول له ځانه بدلون راپیل کړی نو له هره ځاځکې به انشاالله دریاب جوړ سی.

# د روژې پنځلسمه تحفه: [د پنځو کارونو ثواب خورا ستر دی] او [رښتیا او درواغ]

تهیه کوونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-03

ګرانو او معززو دوستانو ، روژه مبارکه هم نیمایی ته ورسېده او خدای دې وکړي چې تیرو برخو څه نا څه معنوی، روحانی او ایمانی ګټه رسولې وی. ښایی هغو کسانو ته چې د دین په چارو کې یو څه کهالت او عطالت لری ، لږ تر لږه معلوماتی خو واقع سوې وی ! څه معلومه چې ژوند به نوره یاري هم وکړی که یا ؟ ! د مګری خو لطفاً پنځلسمه تحفه قبوله کړئ ( ن. صمد . )

## د پنځو کارونو ثواب خورا ستر دی

علماوو فرمایلی دي چې د پنځو شیانو ثواب د غرونو په شان ستر دی او په رزق او روزي کې خورا ډیربښت راولی:
لومړی-تل د صدقې ( خیرات ) د ورکولو مراعاتول ( که لږ هم وی ) ؛
دوهم-صلهٔ رحمي کول ( هر څونه چې یې په توان کې وی ) ؛
دریيم-د الله په لاره کې جهاد کول ( په هر ډول چې وی ) ؛
څلورم-هر وخت په اوداسه ګرځېدل د ځان عادت کول ؛
پنځم-تل او په هر حالت کې د والدینو اطاعت کول.

هو ، خیرات یا صدقه ورکول ، صلهٔ رحمی او د والدینو اطاعت د حقوق العباد اعلی درجه ده. جهاد فی سبیل الله د الهی حقوقو اعلی درجه ده. په اوداسه ګرځېدل د شیطان د مکر او فریب څخه د ژغورنې او د نورو مصیبتونو څخه د ساتنی ښه ذریعه ده. خو د دغو ټولو اعمالو خپلول د پورتنیو ثوابونو څخه علاوه په رزق او روزي کې د برکت ښه منبع هم ده. نو الله (ج) دی موږ ټولو ته د دې نیکو اعمالو پر کولو او مراعاتولو باندی ( چې ډیر اسانه دي ) توفیق راکړی.

# رښتیا او دروا غ

الله تعالی په قرآن کی د مؤمن د اساسی خاصیتونو په هکله داسی فرمایی: «اې مؤمنانو ! ولی هغه څه وایاست چې پخپله یې نه کوئ ؟ د الله په نزد تر ټولو متنفر شی دا دی چی هغه څه چی وایاست خو کوئ یې نه.» (الصف: ۲-۳(
د رسول الله (ص) څخه وپوښتل سوه چی «آیا یو مؤمن بد بخت کېدای سی ؟ ورته ویې فرمایل چی هو کې. ورڅخه وپوښتل سوه چی آیا یو مؤمن ډارن او بې زړه کېدای سی ؟ ورته ویې فرمایل چی هو کې. او بیا ورڅخه وپوښتل سوه چی آیا یو مؤمن درواغجن کېدای سی ؟ ورته ویې فرمایل چی یا« .

په بل روایت کی راغلي چی یو سړی د رسول الله (ص) حضور ته ورغی او داسی یې ورڅخه وپوښتل: «اې د الله رسوله (ص) ! زه په حقیقت کې په پټه درې ګناهوی کوم: یعنی شراب څښم ، زنا کوم او درواغ وایم. نو راته ووایه چی د دغو څخه کوم یو یې ترک او خوشی کړم ؟ ورته ویې فرمایل چی: درواغ پرېږده. سړی هم ولاړئ ، او وروسته یې زنا ته شوق وسو خو د ځان سره یې فکر وکړ چی زه به د رسول الله (ص) حضور ته ورسم او هغه به را څخه وپوښتی چی آیا زنا دې کړې ده ؟ که زه ورته ووایم چی هو کې ، نو هغه به سزا راکړی. او که ورته ووایم چی یا ، نو خپله ژمنه به می ماته کړې وی یعنی درواغ به می ویلی وی. ځکه یې نو د زنا څخه ډډه وکړه او د شرابو په باره کی یې هم کټ مټ ځان راټول کړ. وروسته د رسول الله (ص) حضور ته راغی او داسی یې ورته وویل: اې د خدای رسوله (ص) ! ما اصلاً درې واړه کارونه ترک کړل« .

هو ، نو آیا دا ثابته نه سوه چی درواغ د هری ګناه او بد کار ریښه ده او هغه د نورو ګناهونو رهبر دی ؟ موږ او تاسی به هیڅکله د درواغجن په نسبت بل داسی خوار او بد مرغه انسان و نه وینو. روایت دی چی درواغ د ټولو ګناهونو مور ده. بې ایماني د درواغو تر ټولو شدید ډول دی ، ځکه چی هغه پر الله (ج) درواغ وایی. همدا علت دی چی په اسلام کی درواغ هیڅ ځای نه لری او درواغجن د خدای دښمن دی. نو الله دی هغه کسانو ته نجات ورکړی چی په دغه مزمنه ناروغۍ مبتلا دي او متباقی دی الله له دې وجداني پستۍ او نا آرامۍ څخه وژغوری.

# د روژې شپاړسمه تحفه: [د والدینو لس حقوق] او [پر والدینو د اولاد حقونه]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-04

عزتمنو لوستونکو ، د روژې مبارکه میاشت تر نیمایي واوښته او مرحبا په الوداع سره بدله سوه. زموږ د ټولو ژوند هم کټ مټ د الوداع په حال کی دی. نن وی که سبا ، ملک الموت مو راګیروی. آیا څوک پوهیږی چی همدا روژه به پوره کړو ؟! راتلونکې روژه به « دلته» یو که « هلته» ؟! څومره به ښه وی چی توښه اوس لا برابره کړو او موقع له لاسه و نه باسو. نو دا یې هم د روژې شپاړسمه تحفه ؛ (ن. صمد (

## د والدینو لس حقوق

د اسلام له مخی مور او پلار پر خپلو اولادو باندی لس مهم حقوق لری چی باید اولادونه یې په خپله خوښه مراعات کړی:

۱ ـ که والدین بی وزله وی نو زوی باید د هغوی د خوراک او څښاک انتظام وکړی ؛
۲ ـ که هغوی جامې او لباس ونلری نو هغه باید ورته تهیه کړی ؛
۳ ـ که هغوی کوم خدمت ته اړتیا ولری هغه باید ورته وکړی ؛
۴ ـ که اولاد (زوی یا لور ) ور وبولی باید فوراً ورته حاضر سی ؛
۵ ـ د هغوی سره باید په نرمه لهجه خبری وسی او په لوړ ږغ باید خبری ورسره ونسی ؛
۶ ـ هغوی ته په کوچنی نوم سره خطاب ونکړی ، ځکه دا د هغوی د شان سره بې ادبي ده ؛
۷ ـ زامن باید د پلار تر شا پسی روان وی بلکی د هغه مخته یا ښی یا کیڼ خوا ته ورسره روان نه وی ؛
۸ ـ هر هغه څه چی ځانته خوښوي باید والدینو ته یې هم خوښ کړی او هغه څه چی ځانته یې بد ګڼی هغوی ته یې هم بد وګڼی ؛
۹ ـ والدینو ته باید د خیر دعا وکړی ؛ هغوی ته دعا نه کول ژوندون سخت کوی ؛
۱۰ ـ که هر امر او حُکم ورته وکړی باید فوراً یې عملی کړی ، خو که د دین خلاف امر ورته وکړی هغه باید عملی نکړی.

ښه ګرانه لوستونکې ، راځئ چې مونږ ټول په ګریوان کې وګورو چې آیا همدا ارشادات او احکام عملاً مراعاتوو ؟ څومره یې عملي کوو ؟ ټوله ؟ یوه برخه ؟ او که خورا لږ ، یا هیڅ ؟ د قرآن د اسرأ سورت درویشتم او څلیرویشتم نمبر آیتونه د والدینو حقوق ښه راپیژني. نو راځئ چې سر له همدې اوسه د والدینو احترام او اکرام مسؤلاً مراعات او پر ځای کړو تر څو سبا مونږ پخپله د هغوی په تنني غوندې حالت او حسرت مبتلا نسو او تر ټولو مهم دا چې د الله راسپارلې وظیفه مو حتی الوسع پر ځای کړې وی. بس یوه پرېکنده اراده او فیصله غواړی. د والدینو حقوق د هغوی تر مړینې وروسته هم پای ته نه رسیږی او تل به دعاوی ورته کوو ، صدقې ، نفلونه او خیراتونه به پسې کوو ، هدایات به یې عملي کوو.....

## پر والدینو د اولاد حقونه

رسول الله (ص) فرمایلی دي چې اولاد پر خپل مور او پلار درې حقونه لری:

لومړی- تر زوکړی وروسته یو ښه نوم چې ښه معنی ولری پر هغه کښیږدی ؛
دوهم- کله چې د درک او فهم حالت ته ورسیږی نو قرآن ورزده کړی ؛
دریيم- د بلوغ څخه وروسته کوزده ورته وکړی.

هو ، که په رښتیا هم والدین همدا درې حقونه په مسؤلیت ، صداقت او قوت سره اجرا کړی ، نو یقین دی چې اړونده تخم به یې له برکته ډکه میوه ورکړی ؛ هم به خالق او هم به مخلوق راضی وی ؛ هم به مستریح وی او هم به مستراح. دا درې حقونه په ظاهره عادی ښکاری خو اصلاً په تیاره کی د یو روښانه مشعل حیثیت لری چې ځان او جهان پرې منور کیږی .

# د روژې اوولسمه تحفه: [لس ډوله انسانان جفاکاران دي] او [نفرت په محبت بدل سو]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-05

روژه د جسم او روح دواړو لپاره ده. جسم د خوراک ، څښاک او جماع څخه منع وی ، خو روح بیا د غیبت، درواغو ، تهمتونو ، چغلیو ، حسد او نورو څخه منع وی. که څوک جسمانی روژه ولری خو روحانی روژه یې نه وی ، نو حیوان هم وږی ساتل کېدای سی خو هغه ته روژه نه ویل کیږی ! نو ځکه جسمانی او روحانی روژه د ترازو دوې پلې دي چی سره لازم او ملزوم دي. او دا هم د روژې اوولسمه تحفه ؛ ( ن. صمد (

## لس ډوله انسانان جفاکاران دي

سفیان ثوری (رح) داسی فرمایی: لس ډوله انسانان د جفا کارانو څخه شمیرل کیږی چی هغوی دا دي:

۱ ـ هغه څوک چی یوازی ځان ته دعا وکړی ، خو خپل والدین او مسلمانان هیر کړی ؛
۲ ـ هغه څوک چی د ورځی د قرآنکریم لږ تر لږه سل آیتونه تلاوت نکړی ؛
۳ ـ هغه څوک چی مسجد ته ننوزی خو د دوه رکعته لمونځ کولو څخه پرته بیرته راووزی ؛
۴ ـ هغه څوک چی د هدیرې سره تیر سی خو مړو ته سلام او دعا ونکړی ؛
۵ ـ هغه څوک چی په جمعه ښار ته راسی خو د جمعې لمونځ ونکړی او بیرته ولاړ سی ؛
۶ ـ هغه نر او ښځه چی یو دینی عالم یې کلې ته ورسی او د هغه محل هیڅوک د دغه عالم د دینی لارښوونو اورېدلو ته ورنسي ؛
۷ ـ هغه دوه کسان چی د الله په خاطر مینه سره لری خو یو د بل نوم یې زده نه وی ؛
۸ ـ هغه شخص چی یو څوک یې د ډوډۍ خوړلو لپاره دعوت کړی خو ورنسي ( په دې شرط چی په هغه میلمستیا کی هیڅ کوم قبیح او د شرعی خلاف عمل نه وی ) ؛
۹ ـ هغه ځوان چی فارغه او بیکاره وی خو دینی علم او ادب زده نکړی ؛
۱۰ ـ هغه څوک چی پخپله موړ وی خو ګاونډی یې وږی وی.

هو ګرانه لوستونکې ، که دغه لس موارد په غور ولولو ، نو هغه به مو د ژوندانه صحيح لارې ته راهنمايي کړي او خپلو ډيرو هغه نيمګړتياوو ته به مو متوجه کړي چې همدا اوس يې لرو. نو ښه به دا وي چې دغه لس مواد څو څو واره داسې ولولو چې عمل په وکړو او د ځانو عادت يې وګرځوو تر څو الله تعالی مو دين او دنيا نيکمرغه کړی ، انشاالله.

## نفرت په محبت بدل سو

يوه ورځ رسول الله (ص) د مکې په ښار کی روان و ، يوه بوډۍ ښځه يې وليده چې درانه سامان او شيان ورته پراته وو . هغې داسی ورته وويل: اې عرب وروره ! دغه شيان خو راپورته کړه چې زه يې واخلم. رسول الله (ص) ورته وويل چی زه يې درسره وړم. هغه سامان يې ورسره واخيست خو پر لارې بوډۍ ورته وويل: څنګه چې ته يو نيک انسان يې او زما سره دې احسان وکړ ، نو له يوې خبرې دې خبروم: هغه دا چې په مکه کی يو سړی پيدا سوی دی چې د نبوت دعوه کوی او نوم يې محمد دی. نو پام کوه چې پر هغه ايمان را نه وړې او تصديق يې نکړې.
رسول الله (ص) ورته وويل چی همدا زه محمد يم. بوډۍ په ځير ځير ورته وکتل او داسی وويل: اشهد ان لا اله الا الله و انک رسول الله ؛ يعنی بيله الله څخه بل معبود نسته او همدا ته د الله رسول يې. هو ، بوډۍ ځای پر ځای مسلمانه سوه او نفرت يې په محبت بدل سو .

هو ، د دې روايت لوی اخلاقی درس دا دی چې د رسول الله (ص) ارشادات او کړنې د مسلمانانو لپاره سرمشق سی. که ډير څه نسی کېدای ، يعنی چا ته اغيزمنه ګټه نسو رسولای ، دومره خو ممکن دی چې اقلاً زيانمن يې نکړو. که مسلمانان منجمله افغانان نفس تر پښنو لاندی کړی ( شکسته نفسي وکړی ) او د قوم پالنې ، ګوند پالنی ، پيسه پالنی ، مقام پالنی.... احساسات يو څه لږ کړی او په عوض کی يې اسلام پالنه ( اصولاً او لکه څنګه چې ده هغسی ) هضم کړی نو يقيناً به د روانو مصيبتونو څخه خلاصون تأمين او تضمين سی.

# د روژې اتلسمه تحفه: [یو عمل څنګه بل عمل بشپړوی؟] او [پام او خبرداری]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-06

درنو لوستونکو ، پوهانو ویلي چې معده د ډول ډول ناروغیو کور دی. د دغه کور صفایي او پاکي په همدې میاشت کی کیږی. پوهانو دا هم ویلي چې روژه یوه روحاني توښه ده چې مسلمانان یې د ځانو سره آخرت ته وړی. نو الله دی د روژې پر بشپړ مراعاتولو توفیق راکړی او دا یې هم اتلسمه تحفه ؛ ( ن. صمد (

## یو عمل څنګه بل عمل بشپړوی ؟

ځینو علماوو فرمایلی دي چی د قرانکریم درې داسی آیتونه دي چی په هغو کی اول عمل بېله دوهم عمل څخه د منلو وړ نه دی:

لومړی۔ اقیمو الصلوة و اتو الزکوة ( یعنی: لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ ) ؛ لمونځ بېله زکات ورکولو څخه نه قبلیږی ( دا امر د هغو شتمنو لپاره دی چی زکات ورباندی فرض وی ) یعنی د نه ادایني په صورت کی د لمانځه د ثواب او برکاتو څخه محروم کیږی.

دوهم۔ اطیعو الله و اطیعو الرسول ( یعنی: د الله اطاعت او د رسول اطاعت وکړئ ) ؛ د رسول اطاعت د الله د اطاعت څخه پرته او برعکس د الله اطاعت د رسول د اطاعت څخه پرته د قبول وړ نه دی.

دریيم۔ اَن اشکُرلی و لِوَالِدیکَ ( یعنی: زما یعنی الله شکر ګذار او د مور او پلار شکر ګذار اوسئ ) ؛ د « شکر والدین » د ادا کولو څخه پرته یوازی د « شکر الله » پر ځای کول د قبول وړ نه دی. لکه څنګه چی: فمن ارضی والدیه فقد ارضی اسخط خالقه ( یعنی: هر څوک چی خپل والدین راضی کړی نو خالق یې راضی کړ. (

هو ، په قرانکریم کی دغه درې آیتونه څو څو ځله په ګډه ذکر کیږی او علماوو ویلی دي چی د دغو څخه د هر آیت یوه برخه د بلی سره داسی تړلې ده چی هیڅ نه بېلېدونکې ده ، نو ځکه یوه برخه د بلی بشپړونکې او یو تر بله سره لازم او ملزوم دي. الله تعالی په قرآن کی فرمايي چی اسلام ته سم ورشامل سئ ، داسی نه چی یوه حصه یې منئ او بله یې نه منئ او یوه حصه یې تطبیق کوئ خو بله یې نه کوئ بلکی دغسی کار سخت عذاب په بر کی لری (آل عمران: ۱۱۹ ؛ البقره: **۸۵** ، **۲۰۸** ؛ التوبه: **۸۲**. ) نو الله دی موږ ټول عملاً هغسی مسلمانان کړی لکه په خوله چی یې ادعا کوو!

## پام او خبرداری

علمای کرام په دې ګروهه دي چی د نیوي محبت د دینی محبت سره معکوساً متناسب دی ، یعنی:

**۱** ـ دنیا چی خوښوې ، نو آخرت دي هیروې ؛
**۲** ـ مانۍ چی خوښوې ، قبر هیروې ؛
**۳** ـ پیسې چی خوښوې ، حساب کتاب دي هیروې ؛
**۴** ـ ګناه چی خوښوې ، توبه دی هیروې ؛
**۵** ـ مخلوق چی خوښوې ، نو خالق دي هیروې.

هو ، هر څومره چی انسان دنیا او دنیوي متاع ډیره خوښوی په هغه اندازه یې د آخرت فکر له دماغه وزی که هغه شتمنی وی یا پرتمینه بنګله ، جایداد او نور ملکیتونه ، او که پیسې وی یا ډول ډول تجملات او نور له اسرافه ډک وسایل او غیر ضروری شیان. اسلامی پوهانو ویلی دي چی آفت درې ډولونه لری: شهوانی آفت ، اقتصادی آفت او سیاسی آفت. خو که څوک د پورتنیو پنځو هوسونو مُرید او معتاد سی ، نو هرومرو به د دغو درو آفتونو په غیږ ورځی کله یو اول او کله بل اول. په رښتیا هم که داسی وی نو هر څه به وران وی ، یعنی د زندګي او بندګي بربادي به وی. اسلام تعادل خوښوی نه افراط نه تفریط. یعنی نه له دنیا لاس په سر کېدل او نه پر دنیا مین کېدل
.

# د روژې نولسمه تحفه: [د ګناه لیکل څنګه ځنډول کیږی؟] او [په قیامت کی پنځه پوښتنی]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-07

معززو دوستانو ، علماوو ویلی دي چی روژه د الهی مینی او محبت یوه ښه بیلګه ده ، او د الله(ج) یاد ، ذکر او ثنا ډیره وی چی پایله یې اخلاص او صمیمیت دی. هغوی زیاتوی چی روژه د انسان اراده او عقیده ټینګوی او ځکه یې نو عقل پر نفس ( یعنی اضافی خواهشاتو ) غلبه حاصلوی او واقعی انسان او مسلمان ورڅخه جوړوی. نو په همدې هیله د روژې نولسمه تحفه درته تقدیموم ( ن .صمد (

## د ګناه لیکل څنګه ځنډول کیږی ؟

د انسان پر راسته اوږه او چپه اوږه دوې ملایکی مقرره دي. د راسته اوږې ملایکه د چپه اوږې پر ملایکه حاکمه ده.
نو کله چی انسان ګناه کوی د کیڼې اوږې فرشته غواړي چی هغه ولیکی خو هغه بله فرشته یې د لیکلو څخه منع کوی او ورته وایی چی تر څو پنځه ګناهونه یې نه وی پوره کړي ، مه یې لیکه. کله چی پنځه ګناهوی پوره سی نو د چپه اوږې ملایکه د هغه بلی څخه د لیکلو اجازه اخلی. خو د راسته اوږې ملایکه یو ځل بیا هغه د لیکلو څخه منع کوی او ورته وایی چی صبر وکړه ، ښایی کوم نیک او ښه عمل وکړی.

دغه انسان چی بله ګناه وکړی نو د چپه اوږې ملایکه بیا د راسته اوږې د ملایکې څخه د لیکلو اجازه غواړی. خو هغه ورته وایی چی د الله تعالی اصول دا دي چی د یوې نیکۍ په بدل کی لس چنده ثواب ورکول کیږی. نو که هغه صرف یوه نیکي وکړی ، په بدل کی به لس نیکۍ ورکول سی حال دا چی پنځه ګناهونه یې کړي دي چی په دې حساب د پنځو نیکیو په بدل کی یې پنځه ګناهونه بخښل کیږی او زه یې په حساب کی پنځه نیکۍ لیکم.
دا مهال شیطان په لوړ ږغ داسی فریاد کوی: نو زه به څنګه پر دغه انسان غالب او بریمن سم ؟

هو ، شیطان خو دا دلسردي څرګندوی ، لاکن اعلان کوی او د الله په عزت قسم اخلی چی زه به د آدم (ع) اولاد تر مرګه هم پرې نږدم چی ګمراه او په ګناه یې ککړ نکړم ، خو الله تعالی بیا هم ورته وایی چی زما دې په خپل عزت قسم وی چی تر زکندن پوری به د هغوی توبه قبلوم. نو ګرانو لوستونکو ، دلته د شیطان لعین سخته دښمني او د الله سبحانه و تعالی سخته مهرباني په اثبات رسیږی او دا موقع راکوی چی بیا هم ناوخته نه دی یعنی مخکی له دې چی مرګ راورسیږی ، توبه وکړو . خو دا چی مرګ به کله راورسیږی بیله الله تعالی څخه هیڅوک هم نه پوهیږی. نو څکه مرګ تر بانهو هم نږدې دی.

## په قیامت کی پنځه پوښتنی

د حضرت عبدالله بن مسعود (رض) څخه روایت دی چي رسول الله (ص) وفرمایل: د قیامت په ورځ به انسان یو قدم له مځکي نسي پورته کولای ترڅو چي پنځه پوښتني تري ونه سي:

اول-د عمر په هکله چي په څه کي یې تېر کړی دی ؛
دوهم-د ځوانی په هکله چي په څه کي یې تېره کړې ده ؛
دریيم-د مال په هکله چي په څه ډول یې ګټلی وو ؛
څلورم-خپل ګټلی مال یې په کومو کارونو کي مصرف کړی وو ؛
پنځم-کوم علم چي یې حاصل کړی وو ، په هغه یې څومره عمل کړی وو.

هو ګرانه لوستونکې ، هر مسلمان په دې ایمان لری چی مرګ حق دی او ټول انسانان به د هغه مزه څکی. نو که موږ او تاسی په ګرېوان کی وګورو او د ځان سره حساب وکړو ، خپلی ګناهوی ، لهو او لعب تر نظر تیر کړو نو پوه به سو چی په قیامت کی یې ځواب نسو ورکولای. خو باید جداً متوجه اوسو چی د توبې په انتظار ګناه ته دوام ورکول عادی ګناه په عظیمه ګناه سره بدلوی. نو ښه به دا وی چی عمر مفت را څخه ضایع نسی ، ځواني عبث را څخه تیره نسی ، حلالی او حرامی ګټی ته جدأ متوجه اوسو ، د بل حق و نه خورو څکه ژوند خورا لنډ دی ؛ خپل مال د خیر او فلاح په کارونو کی مصرف کړو نه د فساد او اسراف په برخو کی ؛ او تر ټولو مهم دا چی په هغه علم سم عمل وکړو چی حاصل کړی مو وی او هرو مرو یې تر نورو هم ورسوو.

# د روژې شلمه تحفه: [د جنت ضمانت] او [مګر د عمر (رض) الله خو مو وینی]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-08

درنو لوستونکو ، د روژې د میاشتی دریمه لسیزه یعنی د قرآن د نزول او د اسلام د ظهور لسیزه راورسېده. په دغه لسیزه کی د لیلة القدر مبارکه شپه هم ځای لری چی یوه له طاقو شپو څخه ده. په دغه شپه قرآن نازل سوی دی؛ دغه شپه تر یو زر میاشتو هم بهتره ده ؛ په دغه شپه کی جبرایل (ع) او بې شمیره ملایکی د الله په امر راکښته کېږی ؛ په دغه شپه تر سهاره امان وی او الله(ج) فرمایی چی که څوک هر څه وغواړی زه یې اجابت کوم. نو هیله ده چی د بخښلو دغه لسیزه وړیا را څخه تیره نسی او دا هم شلمه تحفه (ن. صمد)

## د جنت ضمانت

رسول الله (ص) داسی وفرمایل: تاسی ما ته د شپږو شیانو ضمانت راکړئ ، زه به مو د جنت ضامن سم:

لومړی۔تل رښتیا ویونکي اوسئ؛
دوهم۔حتی الامکان پر خپله وفا ټینګ اوسئ ؛
دریم۔په امانت کی خیانت مه کوئ ؛
څلورم۔خپله شرمګاه وساتئ ؛
پنځم۔خپلی سترګی کښته ونیسئ ؛
شپږم۔په لاسونو سره د ظلم مخنیوئ وکړئ.

البته درې ضمانتونه یعنی رښتیا ویل ، پر وعده وفا او د امانت ساتل هم د الله او هم د بندګانو سره رابطه لری. نو که څوک دا شپږ موارد په اخلاص او صداقت سره عملی کړی ، معنی دا چی د اسلام غوښتنی یې عملی کړی دي. له دړ واغو ځان ساتل د اسلام اساس دی ، پر خپله وفا ثابت پاتېدل د اسلام غوښتنه او د انسانیت تقاضا ده ، په سپارل سوي امانت کی (که هغه د ملت واک وی یا قضا

، او يا هم بل امانت وی ) خيانت نه کول د اسلام امر دی ، نرينه او ښځينه پاک لمني او حيأ د اسلام ته‌ينګه غوښتنه ده ، د نرينه او ښځينه لخوا مخالف جنس ته په ناوړه او شهوانی نظر کتل د اسلام ضد عمل دی او باالاخره د هر ډول ظلم ، تيري او فساد پر ضد جايز اقدام يعنی جهاد الهی سپارښتنه او د رسول الله (ص) غوښتنه ده. نو ځکه رسول الله (ص) په حق سره فرمايلی دي چی تاسی دغه اعمال وکړئ زه مو د جنت ضمانت کوم او رسول د خدای هم ښه پوهېدئ چی دا ضمانت د دغو اعمالو په کولو سره خپله حاصلیږی. الله تعالی دې موږ ټولو ته پر دغو اسلامی او اساسی عملونو توفيق راکړی .

## مګر د عمر (رض) الله خو مو وينی

اميرالمؤمنين عمر (رض) هميشه د خپل رعيت د آرامۍ او ساتنی لپاره د شپې ګزمه کوله. يوه شپه د خپل غلام سره په کوڅو او واټونو کی تیرېدئ څو چی ستړی سو او د يو کور د دېوال ترخوا کښېناست چی څه آرام وکړی. دا مهال يې د همدې کور څخه ږغونه واورېدل. يوې زړې ښځې خپلې لور ته ويل چی په شيدو کی اوبه ګډې کړه ( چی سبا يې بايد پلورلي وای ). خو لور يې د هغې خبره نه منل او ټينګار يې کاوه چی اميرالمؤمنين امر کړی دی چی څوک بايد په شيدو کی اوبه ګډی نه کړی ( هغه شيدې چی د خرڅولو لپاره وی ). خو مور يې بيا هم پرله پسې ورته ويل چی دا کار وکړه او دليل يې دا و چی عمر (رض) خو اوس نسته او هغه مو نه وينی. لور يې ورته وويل چی دا صحيح ده چی هغه اوس نسته او موږ نه وينی ، لاکن د عمر (رض) رب خو سته او هغه مو وينی.

عمر (رض) د ځوانی ښځی دغه استدلال او ايمان ډير اغيزمن کړ. سبا سهار يې د هغې په باره کی معلومات وکړ او ورته معلومه سوه چی هغه ام عمره بنت سفيان بن عبدالله التقفی نوميږی او پېغله ده. وروسته يې د خپل زوی عاصم (رض) لپاره مرکه ورته وکړه او پسی ويې غوښته او مېرور يې سوه ، چی وروسته د هغوی د لمسيانو څخه يو هم هماغه خورا عادل واکمن عمر بن عبدالعزيز (رح) تير سوی دی.

هو ، دې ته وايی د اسلام رښتيانۍ روح. هغې پيغلي اسلام په صحيح ډول هضم کړی و او د کامل ايمان لرونکې وه. د هغې سره فعلي غم نه و بلکی د وروستي ساعت په غم کی وه او ځکه يې نو وويل چی عمر (رض) مو نه وينی لاکن د هغه خدای مو وينی ! څومره به ښه وی چی د نن ورځی

تجاران ، دکانداران او نور کاروباریان هم د ام عمره (رض) لاره خپله کړی تر څو دین یې آباد او دنیا یې شاداب وی انشاالله. ژوند ډیر لنډ او د سترګو په رپ کی درومی او د بل لپاره ګټه د سرمایې سرخوری !

# د روژې یوویشتمه تحفه: [انسان ته د مځکی خبرداریٔ] او [تظاهری او حقیقی ادعاگانی]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-09

قدرمنو دوستانو ، پوهانو ویلی دي چی په روژه مات کی باید دومره غذا و نه خوړل سی چی د نس کځوره ډیره تخته او ډکه سی چی له امله یې نه هغه انسان سمه ساه اخیستلای سی ، نه سمی او ارامی خبری کولای سی ، نه سم کښېنستلای سی.... نو ځکه رسول الله (ص) فرمایلی دي چی « د آدم (ع) اولاد د خپل نس څخه بل ناکاره لوښی نه دی ډک کړی. » او دا هم یوویشتمه تحفه ( ن. صمد )

## انسان ته د مځکی خبرداریٔ

علمأ وایی چی مځکه هره ورځ پنځه واره داسی نارې وهی:

۱ ـ اې انسانه ! ته خو زما پر شا ( یعنی سطح باندی ) تګ راتګ کوې ، خو یوه ورځ به زما نس ته هم رالوېږې ؛

۲ ـ اې انسانه ! ته خو زما پر سطح ډول ډول شیان خورې ، خو زما په نس کی به حشرات تا خوری ؛

۳ ـ اې انسانه ! ته خو زما پر سطح ښه خنداوی کوې ، خو ژر به زما په نس کی ژړاوی کوې ؛

۴ ـ اې انسانه ! ته خو زما پر سطح ښه خوشاله یې ، خو سبا به زما په نس کی غمجن یې ؛

۵ ـ اې انسانه ! ته خو زما پر سطح باندی ګناهوی کوې ، خو ژر به زما په نس کی سزاوی ګالې.

هو ، د مځکی دا خبرداریٔ او پوهاویٔ له عبرته ډک سبق دی. که مځکه ووایی یا نه ، که مونږ ووایو یا نه ، که یې ومنو یا نه ، همدا تریخ واقعیت دی چی هر انسان باالاخره د مځکی نس ته ور لوېدونکی دی. هلته د حساب ـ کتاب ورکونکی دی ، د خپلو ګناهونو ، خپلو ظلمونو ، خپلو بدګټو او ښېګټو ځواب ویونکی دی. خو افسوس چی د دې خبرداري او پوهاوي سره سره بیا هم دنیوی چاری ډیری خوښوي لاکن اخروی چاری په باک هم نه راوړی. همدا علت دی چی تقوا کډه کړې او ظلمت واکمن دی.

# تظاهری او حقیقی ادعاګانی

حاتم اصم (رح) فرمایلي دي: څوک چې د څلورو شیانو پرته د نورو څلورو شیانو ادعا کوي ، ادعا یا دعوه یې باطله ده:

لومړی۔ څوک چې د الله پاک د عبادت دعوه کوي ، خو د حرامو شیانو څخه پرهیز نه کوي دعوه یې باطله ده ؛
دوهم۔ څوک چې د رسول الله (ص) د محبت دعوه کوي ، خو مسکینان حقیر او خوار ګڼي دعوه یې باطله ده ؛
دریم۔ څوک چې د جنت دعوه کوي ، مګر خیرات یا صدقه نه ورکوي دعوه یې باطله ده ؛
څلورم۔ څوک چې د دوزخ د بیرې دعوه کوي ، خو د ګناهونو څخه ځان نه ساتي دعوه یې باطله ده.

هو ، څومره لوی درس ، لوی پند او لوی نصیحت ! په رښتیا هم که موږ او تاسی د الهی عبادت دعوه او د اسلام ټیکه داري کوو خو حرام اعمال هم کوو یا حرام خواړه هم خورو نو ادعا مو کوټ دروا غ ده ؛ که د نبی کریم (ص) د انس او مینی ادعا کوو خو بیوزلي په باک نه راوړو نو کوټ درواغ وایو ؛ که د اسلام ټینګه ادعا کوو خو هیڅ صدقه یا خیرات نه ورکوو ( یا هغه په ریا او میلمستیا سره کوو ) نو درواغ وایو ؛ او که له دوږخه د بیری څرګندونه کوو خو مسلسل ګناهونه هم کوو ، ظلم کوو ، خیانت کوو ، قتل کوو ، د بل حق خورو ، غرور کوو ، قوم پالنه او بد پالنه کوو نو درواغ وایو. آیا ښه به نه وی چې تیر هیر کړو ؟ ځکه ، هغو بیله تاوانه څه ګټه رارسولې ده ؟ که لږ په ګریوان کی وګورو ، بس یوه پاکه اراده او قلبی فیصله غواړی نه بل څه.
نو الله (ج) دې د هر مسلمان منجمله افغان دغسی تظاهری او نمایشی ادعاګانی په اصلی او حقیقی ادعاګانو سره بدلی کړی.

# د روژې دوه ویشتمه تحفه: [گاونډی درې ډوله وی] او [د علم زوال او د جهالت خپرېدل]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-10

درنو لوستونکو ، روژې ته الله تعالی ځکه د نورو یوولسو میاشتو په پرتله ډیر اهمیت ورکړی دی چی اول خو یې دا خپله میاشت بللې ده ، او دوهم دا چی هدف یې دا دی چی که یې بندګانو په دا نورو ۱۱ میاشتو کی په خپلو دینی عباداتو او نیکیو کی د غفلت ، سُستۍ او بې پروایۍ څخه کار اخیستی وی نو په دې میاشت کی هغه جبران کړی او دا یوه بهترینه موقع ده چی هره نیکی او عبادت څو چنده عوض لری. په همدې هیله دوه ویشتمه تحفه درته وړاندی کوم (ن. صمد(

## گاونډی درې ډوله وی

رسول الله (ص) فرمایلی دي چی درې ډوله همسایګان وجود لری:
لومړی۔ هغه ګاونډی چی درې حقونه لری ( هغه چی خپلوان یې وی ، او درې حقوق یې دا دي: د هغه مسلمان توب، د هغه خپلوي ، او د هغه ګاونډیتوب ) ؛
دوهم۔ هغه ګاونډی چی دوه حقونه لری ( هغه چی مسلمان وی او دوه حقوق یې دا دي: دا چی هغه مسلمان دی ، او دا چی ګاونډی یې دی ) ؛
دریېم۔ هغه ګاونډی چی یو حق لری ( هغه ګاونډی چی غیر مسلمان وی نو صرف د ګاونډیتوب حق لری. )

هو ، اسلام ګاونډیتوب ته ډیر اهمیت ورکوی او پر هر ګاونډي یې د بل ګاونډي حق واجب کړی دی . پر هغوی پوښتنه کول ، د سفر پر مهال د هغوی خیال ساتل ، د اړتیا پر مهال مرسته ورسره کول ، د ناروغۍ پر مهال د هغوی عیادت کول او تل نېکه رویه ورسره کول د اسلام غوښتنې او سپارښتنې دي. نو که ګاونډی د یو مسلمان ګاونډي خپلوان وی درې حقوق لری ، که پردی وی نو دوه حقونه لری او که نا مسلمان وی یو حق لری. دا څومره علمي او آفاقي اصل ، پرنسیپ ، معیار او نصیحت دی چی رسول الله (ص) ټول مسلمانان ورته متوجه کوی. نو څومره به ښه وی چی موږ او تاسی د خپل نبی (ص) لارښوونی مخلصانه پلی کړو.

# د علم زوال او د جهالت خپرېدل

انس بن مالک (رض) وویل چې آیا هغه حدیث درته بیان نکړم چې د رسول الله (ص) څخه مې اورېدلی دی او تر اوسه بل چا نه دی بیان کړی ؟ هغه دا چې: د قیامت د نښانیو څخه یوه دا ده چې علم به واخیستل سی ، دا ځکه چې جهالت به خپور سی ؛ دا ځکه چې زنا به خپره او رواج سی ؛ دا ځکه چې شراب به ډېر څښل کیږی ؛ دا ځکه چې نرینه به محوه کیږی او ښځینه به پاتیږی تر دې حده چې د هرو پنځوس ښځو لپاره به یو ساتونکی وی (صحیح بخاری: ۱۷۸/۱ او صحیح مسلم: ۲۲۱/۱۲ ).

هو ، په ربښتیا هم نن علم اخیستل سوی او جهالت خپور دی. علم هغه وخت علم دی چې عمل په وسی او یوازی غیر دینی یا سیکولر علم ته علم نه ویل کیږی بلکی دینی علم د نورو نافعو علومو متمم وی ، که نه هغه به بې ګټې علم وی. نن موږ ګورو چې دینی عالم مو د دنیوي علم څخه ناخبره دی او دنیوي عالم مو بیا د دینی علم څخه ناخبره دی چې له امله یې علم د هغه په اصلی معنی او مفهوم سره زوال ته ځی او جهالت خپریږی. موږ عملاً ګورو چې په هر اسلامی هیواد کی زنا لږ یا ډېر رواج ده ، شراب لږ یا ډېر څښل کیږی ، نرینه لږ یا ډېر محوه کیږی..... چې له امله یې د دغو ټولنو څخه برکت او حیثیت کډه کړې ، جهالت او ظلمت پر مسلط دی ، مصیبت او ضلالت پر واکمن دی او خیانت او جنایت پکښی خپور دی. کوم اسلامی هیواد د داسی خبایثو څخه لږ یا ډېر ژغورلی او ساتلی دی ؟ نو د الله تعالی د امر (الرعد ـ ۱۱ ) مطابق باید په ځانونو کی رغنده او مثبت بدلون راوړو تر څو الله تعالی مو د پټلۍ څخه اوښتی رېل بیرته لارې ته برابر کړی ، انشاالله.

# د روژې درویشتمه تحفه: [شیطان پنځه زامن لري] او [جنازه اېرلاینز]

تهیه کوونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-11

متدینو دوستانو ، څنګه چې په دې میاشت کې هر ښه عمل او هر عبادت څو چنده عوض لري ، نو افسوس په هغه مسلمان چې دا میاشت د نورو ۱۱ میاشتو غوندې د موسیقۍ په لیدو یا اورېدو ، د ناوړو ټلویزیوني چینلونو او پروګرامونو په لیدو او یا هم د انټرنیټ د بد اخلاقه او حرامو خپرونو په لیدو ، قطعه بازیو ، قمار ، ګپ او نورو مفاسدو سره ضایع کوي. نو دا یې هم د روژې درویشتمه تحفه ( ن. صمد (

## شیطان پنځه زامن لري

روایت دی چې شیطان پنځه زامن لري او هر یو یې د انسان د تباهۍ لپاره خپله دنده مخته وړي ، یعني:

۱ ـ « بثر » غم ځپلي کسان د ګریوانونو څیرلو او لویو کریږو او ساندو ته د جاهلیت د زمانې غوندې هڅوي ؛

۲ ـ « اعور » انسان زنا ته هڅوي او لمسوي ؛

۳ ـ « مسوط » درواغ جوړونکی دی ، یعني یو چا ته درواغ وو ایي او هغه چمتو کړي چې همدا درواغ پسې نقل کړي او داسې ووایي: د یو چا څخه مې اورېدلي دي چې نوم یې را څخه هېر دی ، خو په څېره او قیافه یې پېژنم ؛

۴ ـ « داسم » هغه شیطان دی چې یو سړي ته د خپل کور یو عیب په زړه کې ور اچوي او په دې ډول یې خښموي څو چې یوه کورنۍ شخړه ایجاد کړي ؛

۵ ـ « زنکبور » هغه شیطان دی چې خپله جنډه یې په بازار کې درولې او رپولې ده.

د شیطان دغه پنځه بچیان په ګډه د لوی شیطان لپاره کار کوي او مرسته ورسره کوي. خو انسانان همیشه له هره پلوه د هغوی تر هدف لاندې دي. نه باید د غم پر مهال د الله د امر خلاف عمل وکړو یعني د الهي ارادې او فیصلې پر خلاف و نه دریږو بلکې د صبر څخه کار واخلو ؛ نه باید نامحرم سړي یا ښځې ته د شهواني پلوه یا د زنا په خاطر ناولې پلان جوړ کړو او خپل ایمان خراب کړو ؛ نه باید هیڅ ډول درواغ ووایو یا په بل پسې ناوړه درواغ جوړ کړو او ځان ناحقه د خدای دښمن کړو ؛

نه باید د خپل کور د لطف او خوښی ماحول په لوی لاس خراب کړو او په دې ډول د ځان او عیال سره ظلم وکړو ؛ نه باید په بازار او کاروبار کی خطا ایستل ، چل ، فریب او فساد وکړو تر څو شیطان راضي او رحمان ناراضه سی. نو د خلاصون یوازینی لاره د ایمان ټینګول ( یعنی د نوموړو کړنو څخه جدا کېده ) او په هغه مخلصانه عمل دی. الله دی د دغسی نیکو اعمالو توفیق راکړی.

## جنازه ایرلاینز

کله چی موږ د دې دنیا څخه بلی دینا ته روانیږو ، داسی وګڼئ لکه کوم بل هیواد ته چی ځو ، یعنی کوم هیواد او څنګه ؟

هغه چی جزییات یې په غولونکو سفری رسالو کی نسته بلکی صرف په قرآن او حدیث کی موندل کیږی.

هغه چی طیاره به یې انډیین ایرلاینز نه وی ، بریټیش ایرویز به نه وی ، او نه به هم ګلف ایر یا عمارات وی ، بلکی دا به « ایر جنازه » وی.

هغه چی زموږ د بار او بُنې اجازه به تر ۳۰ کیلو پوری نه وی بلکی صرف زموږ اعمال به وی ، خو مهمه نه ده چی هر څومره وزن هم ولری.

تاسی د اضافه بار لپاره پیسې نه تحویلوئ. بلکی هغه بېله پیسو څخه ستاسو د خالق په رضا سره وړیا انتقالیږی.

هغه چی زموږ لباس به د پیری کارډن یا ورته عالی ټوکر څخه نه وی بلکی ساده نخی سپین کفن به وی.

هغه چی زموږ خوش بویی به د چینل ، پیکو ربان څخه نه وی بلکی کافور یا عطر به وی.

هغه چی زموږ پاسپورټ به هندئ ، یا برتانوئ ، یا فرانسوئ یا امریکایی نه وی بلکی اسلام به وی .

هغه چی زموږ د اوسېدو ویزه به د شپږو میاشتو یا بلی کومی مودې لپاره نه وی بلکی لا اله الا الله به وی.

هغه چی هوایی خدماګارانی به یې ښځینه نه وی ، بلکی عزرایل او د هغه غوندی به وی.

هغه چی د ټکټ امتیاز او سرویس به یې اوله درجه والا یا ایکونومی نه وی ، بلکی یو معطر یا خورا بد بویه ټوټه ټوکر به وی.

هغه چی زموږ د ورتګ ځای به د هیترو اول نمبر ټرمینل یا د جدې نړیوال ترمینل نه وی ، بلکی وروستی «قبرستان ټرمینل» به وی.

هغه چې زموږ تم ځای به یو په غالیو فرش او ایرکنډیشن اطاق نه وی ، بلکی شپږ فته ژور تور او تیاره قبر به وی.
هغه چې د امیګریشن آفیسر به یې د علیاحضرتی یا سپینی ماڼۍ او نورو افسران نه وی ، بلکی منکر او نکیر به وی.
هغوی صرف دا چیک کوی چی هغه ځای چی ته یې غواړې ، د هغه مستحق یې که یا.
هغه چې د ګمرک د افسرانو یا پلټونکو شتون ته اړتیا نسته.
هغه چې ترانزیټ توقف یې برزخ دی.
هغه چې زموږ د سفر آخری منزل به هغه باغ وی چی تر لاندی یې ویالې بهیږی او یا به هم له اوره ډک دوږخ وی.
دغه سفر په پیسو نه بلکی وړیا دی ، نو ځکه تاسو هیڅ مصرف نه لرئ.
دغه پرواز قطعاً نه یرغمل کیږی ، نو ځکه د تروریستانو له درکه هیڅ تشویش مه لرئ.
په دغه پرواز کی به خواړه درنکړل سی ، نو ځکه دا تشویش مه کوئ چی هغه به حساسیت ولری یا به حلال وی که حرام.
د پښو غځولو لپاره تشویش مه کوئ ؛ تاسو هغه ته ځکه اړتیا نلرئ چی ستاسو پښې به هماغه پخوانۍ پښې نه وی.
د الوتنی د ځنډیدو تشویش مه کوئ. دغه پرواز تل پر خپل وخت کیږی. هغه پر ټاکلي وخت له دې ځایه روانیږی او پر ټاکلی وخت هلته رسیږی.
د الوتنی پر مهال د داخلی ساعت تیري په هکله ځکه تشویش مه کوئ چی د خوند اخیستلو ټول حواس به مو له لاسه ورکړي وی.
د دې سفر د بوکینګ (ریزرو ) په باره کی ځکه تشویش مه کوئ چی هغه له مخکی څخه لا یعنی له هغه وخت راهیسی ټاکل سوی دی چی تاسو د مور په رحم کی په هماغه اوله ورځ د جنین په حال کی واست.

آها ! په دې باره کی هم تشویش مه کوئ چی څوک به مو څنګ ته ناست وی. بلکی تاسی به په شانداره ډول په همدې پرواز کی یوازی یاست. نو ځکه چې وس مو وی هغومره خوند ځنی واخلئ. یعنی څومره چی کولای سئ!
یو وروستی خنډ لا هم دا چې: دغه سفر بېله کوم خبر څخه یو دم رارسیږی. نو آیا ورته آماده یاست ؟ که ځواب منفی وی نو ژر به پښیمانه سئ او که مثبت وی نو ښه چمتووینه درته غواړم!

# د روژې څلیرویشتمه تحفه: [د عرش سیورې د چا لپاره ؟] او [لمونځ او ننني مسلمانان]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-12

رسول الله (ص) فرمایلي دي چې زما امت ته د روژې په هکله پنځه داسې شیان ورکول سوي دي چې پخوا نورو امتونو ته نه وو ورکړل سوي: لومړی-د خولې بد بوی یې د الله لپاره تر مشکو هم د خوښې وړ ده ؛ دوهم-د هغوی لپاره آن تر ماهیانو پورې لا هم هر څه دعاوې کوي او هغه تر روژه ماتې پورې کوي ؛ دریېم-جنت هره ورځ د دوی لپاره سمیږي او الله ورته فرمایي چې ژر به زما بنده (د دنیا ) مشقتونه پر ځان تیر کړي او تا ته به راسي ؛ څلورم-شیطان ورڅخه قید سوی دی تر څو هغسې بد یو ته یې نه بوزي چې په غیر رمضان کې به یې وروستیً ؛ پنځم-د روژې په آخرې شپه به د روژه لرونکو لپاره مغفرت کیږي.
اصحابو ورڅخه وپوښتل چې آیا د وروستۍ شپې څخه مطلب د لیلة القدر شپه ده ؟ویې فرمایل چې یا ، بلکې دستور دا دی چې مزدور ته اجوره د کار تر ختمېدو وروسته ورکول کیږي. هو ، نو په همدې امید لطفاً څلیرویشتمه تحفه ولولئ (ن. صمد(

## د عرش سیورې د چا لپاره ؟

د قیامت په ورځ به د عرش د سیورې څخه پرته بله سایه نه وي ، نو الله تعالی به صرف اوو ډلو ته دغه سیورې عنایت کړي چې هغه دا دي:
لومړی-عادل امام (یعنې منصف واکمن ) ؛
دوهم-عبادت کونکی ځوان (الله د ځوان عبادت له نورو څخه ډیر خوښوي ) ؛
دریېم-هغه څوک چې زړه یې د مسجد سره تړلی وي (یعنې د لمانځه د وختونو په فکر کې وي ) ؛
څلورم-هغه دوه کسان چې دوستي یې صرف د الله د رضا لپاره وي ؛
پنځم-هغه څوک چې په یوازې والي کې الله یادوي او ژاړي (چې دا د اخلاص نښه ده ) ؛
شپږم-هغه څوک چې صدقه (خیرات ) دومره په پټه ورکوي چې آن پخپله هم ښه خبر نه وي چې څومره مې ورکړي دي ؛

اووم۔هغه شخص چې کومه ښکلې ښځه یې ځانته د عیاشۍ لپاره ور وبولي خو هغه یې رد کړي او ووایي چې زه د الله څخه بیریږم.

هو ، دا به څومره ویاړ او مؤفقیت وي چې واکمن د عدل ، انصاف او حِلم څخه کار واخلي نه له غرور ، ځان پالنې او فساد څخه ؛ روایت دی چې د ځوانۍ عبادت د سرو زرو غوندي وي ، د پاخه سِن عبادت د سپینو زرو او د زوړ والي عبادت د مسو غوندي وي ؛ د یو بل روایت له مخې هغه ځوک اصلي بریمن دی چې زړه یې په مسجد کې د جماعت د لمانځه سره تړلی وي او الله هغه کسان ډیر خوښوي چې دوستي یې د الله لپاره وي نه د دنیا ، قوم ، مقام ، پیسو یا بل فاني څیز لپاره ؛ په رښتیا هم د اخلاص بهترینه نښه په یوازې والې کې د الهی ذکر کول ، او د عقبا په فکر کې کېدل دي ؛ او که ځوک په صدقه او خیرات ورکولو کې د ریا څخه کار وانخلي بلکې د الله سره حساب وکړي نو د الهی پیرزوینې او عطاینې څخه به برخمن وي او دا چې یو ځوک د عیاشۍ او فحشأ د آسانه مهیا کېدلو سره سره د هغه څخه ځان لیرې او پر شا کړي او د خدای څخه وبیریږي نو بېله شکه به یې الهی رحمت او شفقت په نصیب وي. الله دې د ټولو مؤمنانو زړونه په دغو صفاتو سره منور او متصف او د الهی عرش څخه برخمن کړي.

## لمونځ او نننۍ مسلمانان

یو عالم د لمانځه په وړاندې د یوویشتمې پیړۍ د مسلمانانو غفلت دې نتیجې ته رسولی دی چې:

۱ ـ د سهار لمونځ یې په خوب ورڅخه تیر او ضایع کیږي ؛
۲ ـ د ماپښین لمونځ په کار یا مکتب او یا هم پوهنځۍ کې ورڅخه ضایع کیږي ؛
۳ ـ د مازیګر لمونځ په تفریح ، یا مجلس او یا هم استراحت کې ورڅخه ضایع کیږي ؛
۴ ـ د ماښام لمونځ په کوم غیر ضروري مصروفیت ، یا ځان اخته کولو ورڅخه ضایع کیږي ؛
۵ ـ د ماخستن لمونځ د ټلویزیون یا فلم په لیدو او یا هم د راډیو په اوریدو ورڅخه ضایع کیږي ؛
۶ ـ د جمعې د ورځې لمونځ هم په کار ، یا کوم فرعي مصروفیت ورڅخه ضایع کیږي ؛
۷ ـ د تهجد لمونځ خو صرف یو تصور یا د خوب او خیال خبره ده.

نو ځکه په قبر کې لومړنۍ پوښتنه د لمانځه په هکله ده او شاعر هم داسې وایي :
روز محشر که جان ګداز بود ..... اولین پرسش ز نماز بود
لوی خدای دې ټول مسلمانان واقعي مؤمنان کړي ؛ ځکه انسان اصلاً د الله(ج) د عبادت لپاره خلق

سوی دی. نوری چاری فرعی خو الهی عبادت اصلی هدف دی. ځومره به ښه وی چی نور نو د ډول ډول حیلو او پلمو څخه ځانونه خلاص کړو او هغه څه را پیل کړو چی لپاره یې دې دنیا ته راغلي یو
.

# د روژې پنځه ويشتمه تحفه: [د قول او عمل اختلاف] او [هغوی چې لمونځ نه کوی]

تهيه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-13

درنو لوستونکو ، د روژې وروستۍ لسيزه د قرآن د نزول او د اسلام د ظهور شپې دي. ليلة القدر ( يعنی د قدر او قدرت شپه ) د دې لسيزې په طاقو شپو کی يوه ده. نن پنځه ويشتمه روژه ده ، نو ښايی همدا نن شپه ليلة القدر وی ( والله اعلم ). دوې طاقی شپې تيری سوې او دوې نوری طاقی شپې راروانی دي ؛ يعنی دوې تيری او دوې نوری ! ځينو علماوو ويلی دي چی يو کال يوه طاق شپه ليلة القدر وی او بل کال بيا هغه بله طاق شپه وی. خو ډيرئ اصحاب ، تابعين او تبعه تابعين د روژې اووه ويشتمه شپه ليلة القدر بولی ( الله بهتر پوهيږی ). په دغه شپه عبادت او الهی ذکر د يو زر مياشتو عبادت څخه هم بهتر وی. نو په همدې تمه لطفاً د روژې پنځه ويشتمه تحفه قبوله کړئ ( ن. صمد (

## د قول او عمل اختلاف

شفيق بن ابراهيم (رح) فرمايلی دي چی خلک څلور تورې په خوله وايی ، خو په عمل کی د هغه پر خلاف اجرأت کوی:
لومړی- هر څوک وايی چی زه د الله بنده يم ، خو داسی عمل کوی لکه د هيچا بنده چی هم نه وی او هيڅ مالک چی نه لری ؛
دوهم- هر څوک وايی چی رزق الله راکوی يعنی الله رازق دی ، خو د د نيا د مال لرلو څخه پرته يې زړه نه قانع او ډاډه کيږی ؛
دريیم- هر څوک پوهيږی او دا وايی چی آخرت تر دنيا بهتر دی ، خو شپه او ورځ د دنيا د مال او دولت په ټولولو او ډيرولو لګيا وی تر دې حده چی د حلال او حرام فرق په باک نه راوړی ؛
څلورم- هر څوک وايی چی مرګ حتماً را باندی راتلونکی دی ، خو داسی اعمال کوی لکه هيڅ وخت چی هم نه مري.

هو ، دا تريخ واقعيت نن د ټولې اسلامي نړۍ ، منجمله افغانانو د اعمالو ښه مصداق دی. اکثريت له خدايه د زياتې بيرې خبرې کوی خو عمل يې برعکس وی ؛ هيڅوک هم د مال ، دولت او شتمنۍ څخه نه مړيږی آن په حرامو پسې غوټې وهی ؛ داسې ښوک به نه وی چې مرګ حق و نه ګڼی خو عمل يې په رښتيا هم داسې وی لکه مرګ چې نه لری. دا هر څه د شيطان د خوښۍ او د رحمان د خپګان لاره ده. نو ښه به دا وی چې سر له همدې لحظې د ځانونو د بدلون او سمون عملی هڅه پيل کړو.
ځکه ، الله مو تر هغه وخته حالت نه رابدلوی څو چې پخپله په ځانونو کی بدلون رانه وړو ( الرعد : ۱۱. )

## هغوی چې لمونځ نه کوی

له شکه وتلی او ثابت حقيقت دی چې لمونځ انسان ته نجات ورکوی. د هغه ترک کول سربيره پر دې چې سخته سزا لری ، دنيوی ناخوالې ، بدمرغۍ او مصيبتونه هم په بر کی لری ، يعنی د يو روايت له مخی :
هغه کسان چې د سهار لمونځ نه کوی: د مخ نور يې اخيستل کيږی ؛
هغه ښوک چې د ماپښين لمونځ نه کوی: د رزق او عايد برکت يې اخيستل کيږی ؛
هغه ښوک چې د مازيګر لمونځ نه کوی: د بدن قوت يې اخيستل کيږی ؛
هغه ښوک چې د ماښام لمونځ نه کوی: د خپلو اولادو خير نه ور رسيږی ؛
هغه کسان چې د ماخستن لمونځ نه کوی: د خوب آرامي يې اخيستل کيږی.

هو ، لمونځ عمل هم دی او عقيده هم. د مؤمن راپيژندونکی هم دی او معراج يې هم. کله چې يو لمونځ کونکی سورة فاتحه ( الحمد لله ) وايی ، نو الله تعالی د هر آيت ځواب ورکوی. نو ځکه الله تعالی فرمايی چې: لمونځ وکړه مخکی له دې چې تا ته لمونځ درکړه سی ! رسول الله (ص) فرمايلی دي چې لمونځ د دين پايه ده. ښومره به ښه وی چې نور نو د غه الهی امر او فرض قضا نکړو.

# د روژې شپږویشتمه تحفه: [د توبه کونکې سره څه وکړو ؟] او [د اور ضد سپر]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-14

عزتمنو دوستانو ، روژه د عبادت ، رحمت او مغفرت یوه ځانګړې میاشت او موقع ده. د نامشروع خواهشاتو پر ضد د مبارزې میاشت ده ؛ د تربیې ، عبرت او پرهیز میاشت ده. نو باید فرصت له لاسه ورنکړو ، ځکه خورا مهمه او وروستۍ لسیزه د رومی. څومره چی کېدای سی باید فرضي او نفلی عبادات وکړو ، د قرآنکریم تلاوت زیات کړو ، الهی ذکر او دعاوی زیاتی کړو ، له دوږخه لیری والی او جنت ته تقرب وګټو ، ایمان بیرته تجدید او تازه کړو ، نفسانی هوسونه تحریم او تحدید کړو.... نو په همدې هیله دا ده شپږویشتمه تحفه درته وړاندی کوم ( ن. صمد (

## د توبه کونکې سره څه وکړو ؟

اسلامی پوهان وایی چی څوک د بدو اعمالو څخه توبه وکړی ، نو ټولو ته لازمه ده چی د هغه شخص سره دغسی برخورد او سلوک وکړی:

۱ ـ د هغه سره مینه او محبت وکړی یعنی پر هر چا ډیر ګران وی ، ځکه چی الله تعالی محبت ورسره لری ؛
۲ ـ هغه ته پر توبه باندی د استقامت او ټینګ پاتېدو دعا وکړی ؛
۳ ـ د هغه د تیرو ګناهونو په خاطر پیغورونه او طعنې ورنکړی ؛
۴ ـ د هغه سره ناسته ولاړه غوره کړی ، مرسته یې وکړی او په ښه توګه یې یاد کړی.

هو ، موږ افغانان خصوصاً پښتانه د پس ګویی ، غیبت او پیغورونو په مرض ډیر مبتلا یو. په الهی اراده او فیصله کی مداخله کوو. د قرآن احکام او نبوي ارشادات ماتوو او خپله ځانی فتوا صادروو. یعنی یو چا چی د الله او رسول د لارښوونی له مخی پر خپلو تیرو بدیو او ګناهونو پښېماني او توبه کړې وی ، موږ یې بیا هم نه پسی پرېږدو. زیان ور رسوو ، خبری پسی کوو ، په غیبت یې نه مړیږو او په لوی لاس د هغه ګناهونه خپلوو. څومره به ښه وی چی موږ خپل دغه جاهلی عادت پرېږدو چی په یو اصلاح سوي شخص پسی بد وایو او غیبت یې کوو. که پورتنی اسلامی

اصل په ټینګه مراعات کړو ، نو ځان او نور کسان به مو د اضافی ګناهونو څخه بری الزمه کړي وی. الله (ج) دې ټولو ته د دغسی سمون توفیق او حوصله راکړی.

## د اور ضد سپر

خالد بن عمران (رض) روایت کړی چی یوه ورځ رسول الله (ص) زموږ قبیلې ته تشریف راوړ او داسی یې وفرمایل: خپل سپرونه مو راواخلئ !عرض ورته وسو چی یا رسول الله (ص) !آیا دښمن راغلی دی ؟ ویې فرمایل چی یا ، بلکی د اور څخه د خلاصون په خاطر سپرونه راواخلئ. ورته وویل سول چی یا رسول الله (ص) !د اور څخه د نجات کوم سپرونه ؟ داسی یې وفرمایل:
سبحان الله و الحمد لله و لا اله الا الله و الله اکبر و لا حول و لا قوة الا با لله العلی العظیم !چی دغه کلمې د قیامت په ورځ د هغه د ویونکې مخ ، شا ، ښی او کیڼ خوا ته ورسره ځی او برابر یې جنت ته بیایی ؛ او د راسته ، چپه ، شا او نورو خواوو څخه یې د دوږخ او نورو آفتونو څخه ساتی.

هو ، په رښتیا هم الهی عظمت ، قوت ، سترتیا او لوړتیا نه حد لری او نه هم اندازه. رسول الله (ص) وفرمایل چی باقیات صالحات ډیر وایاست. ورڅخه وپوښتل سوه چی دا څه شی دی ؟ ویې فرمایل چی هغه تکبیر ( الله اَکبر ) دی ، تهلیل ( لا اله الا الله ) دی ، تسبیح ( سبحان الله ) دی ، تحمید ( الحمد لله ) دی او لاحوله ولا قوة الا باالله دی. رسول الله (ص) دا هم فرمایلی دي چی د دغی کلمې په ویلو سره ګناهونه داسی تویيږی لکه ( په ژمی کی ) د ونې څخه پاڼې. او رسول الله (ص) فرمایی چی که څوک تر هر لمانځه وروسته لس واره سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر ووایی نو د هغه ریښې به پر مځکه وی خو ښاخونه به یې په آسمان کی وی. نو څومره به ښه وی چی د نبی کریم (ص) د دغو لارښوونو او پیرزوینو عملاً درناوی وکړو او د بدیو څخه نور نو ځانونه وژغورو او نیکی بې حسابه واخلو !ځکه ، تر ننه چی مو هر څه کړي دي کومه خاصه ایمانی ، فلاحی او عقیدوی ګټه یې لرلې ده ؟

# د روژې اووه ویشتمه تحفه: [د بې نمازه انسان سزا] او [مفلس څوک دی]

تهیه کونکی. نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-15

عابدو او متدینو لوستونکو ، د زیاترو علماوو په نزد لیلة القدر همدا نن شپه ده (والله اعلم).
یعنی کومه شپه؟
۱ ـ انسانانو ته د هدایت لپاره د قرآنکریم نزول؛ ۲ ـ په دغه شپه رحمت او برکت خورا زیات وی؛ ۳ ـ په دغه شپه د راتلونکې کال اړونده رزق ، عمر او پیښې مقدر او مشخص کیږی؛ ۴ ـ په دغه شپه عبادت تر یو زر میاشتو هم بهتر وی؛ ۵ ـ په دغه شپه جبرایل (ع) او بې شمیره ملایکې راکښته کیږی چې د خیر او برکت سبب ګرځی؛ ۶ ـ په دغه شپه د ناروغیو او بدمرغیو څخه سلامتې وی؛ ۷ ـ په دغه شپه ناسته او قیام یعنی عبادت او الهی ذکر د تیرو ګناهونو د بخښلو باعث کیږی؛ ۸ ـ په دغه شپه الله تعالی وایی چې «آیا څوک شته چې بخښنه او مغفرت راڅخه وغواړی تر څو ویې بخښم؟ آیا کوم پوښتونکی شته چې سوال یې ځواب کړم؟ آیا د رزق غوښتونکی شته چې په روزي کې یې برکت راوړم؟» نو هغه به کوم بد نصیب وی چې د دغسی مقدسې شپې په حاصلولو سره بیا هم په درانه خوب ویده وی ، هغه ضایع کړی او وړیا ګټه ترې وانه خلی؟ نو راځئ چې اول یې پر لمانځه د پابندی څخه راپیل کړو! او دا هم د روژې اووه ویشتمه تحفه (ن. صمد)

## د بې نمازه انسان سزا

د الهی آیتونو او نبوي حدیثونو له مخی څوک چې لمونځ نه کوی او په باک یې نه راوړی نو د سخت عذاب سزاوار دی. په احادیثو کی راغلي دي چې څوک لمونځ نه کوی نو الله (ج) به پنځلس سزاوی ورکړی: شپږ به په دې دنیا کی وی ، درې به د مړ کېدو پر مهال وی ، درې به په قبر کی او درې به هم د قیامت په ورځ وی.

د ژوند پر مهال یې شپږ سزاوی دا دي:
۱ ـ الله یې له ژونده برکت اخلی (یعنی ژوند یې بد مرغه کوی. (
۲ ـ الله یې استدعا (یعنی دعا) نه قبلوی؛

۳ ـ الله يې د ځيرې څخه د ښو خلکو بصيرت ايسته کوي ؛
۴ ـ پر مځکه به د ټولو مخلوقاتو د کرکې وړ وي ؛
۵ ـ الله د هغه د اعمالو په بدله کې اجر ( ثواب ) نه ورکوي ؛
۶ ـ د ښه خلکو په دعاوو کې نه شامليږي.

د مرګ پر مهال درې سزاوې دا دي:
۱ ـ د تحقير او سپک تيا په حال کې مړ کيږي ؛
۲ ـ د لوږې په حال کې مړ کيږي ؛
۳ ـ د تندې په حال کې مړ کيږي. که د سمندر ټولې اوبه هم وڅښي بيا به هم تږی وي.

په قبر کې درې سزاوې دا دي:
۱ ـ الله يې قبر دومره تنګ کوي چې د پښتې هډوکې يې يو د بل څخه تير سي ؛
۲ ـ الله سُور اور پر تويوي ؛
۳ ـ الله مار پر مقرر کوي چې « زړه ور » ، « بې باکه » نوميږي چې د سهار د لمانځه د ترک کولو له امله به يې د سهار څخه تر ماپښين پورې وهي ، د ماپښين څخه به يې تر مازيګر پورې د ماپښين د لمانځه د نه کولو له امله وهي ، او په همدې ترتيب. په هره ضربه سره هغه اويا ګزه په مځکه ننوزي
.

د قيامت په ورځ درې سزاوې دا دي:
۱ ـ هغه به تر مخ نيول سوی وي او په کشولو به دوږخ ته اچول کيږي ؛
۲ ـ الله به هغه ته په قهر سره ګوري دا سې چې د مخ غوښې به يې تويږي ؛
۳ ـ الله په سختۍ سره فيصله پر صادروي او امر کوي چې په دوږخ کې يې واچوئ.

هو ، د نبوي حديث له مخې « د انسان او کفر بيلونکی لمونځ دی ». آيا پوهيږئ چې دا څومره لوی خبرداریٔ دی؟ په هر صورت ، فقهاوو او علماوو ويلي دي چې څوک لمونځ نه کوي هغه ديندار هم نه دی او ديندار هغه څوک دی چې پر لمانځه ټينګ وي. رسول الله (ص) فرمايي چې « لمونځ د دين ستون دی. » نو که چا لمونځ وکړ دين يې ټينګ کړ. که نه ، دا ستون يې ونړوئ يعنی د لمانځه په ترک او نه کولو سره يې دين وران کړ. دا لا څه ، الله تعالی د لمونځ نه ادا کول د کفارو خصلت بللی دی: « او که هغوی ته وويل سي چې د الله په وړاندې ټيټ سئ ( يعنی رکوع وکړی ) نو رکوع نه کوي ( المرسلات: ۴۸ ). الله په المدثر سورت کې د بې نمازه انسان ځای دوږخ بولی: « جنتيان به د

دوږخیانو ځخه وپوښتی چی جهنم ته ستاسو د بیولو علت څه دی ؟ هغوی به ورته وو ایی چی موږ لمونځ نه کاوه.» باید متوجه اوسو چی د لمانځه څخه هدف صرف پورته کښته کېدل نه بلکی لمونځ باید د هغه په اصلی معنی او مفهوم سره وی. داسی نه چی ظاهری لمونځ کوو خو ډول ډول ګناهونه، ظلمونه او فسادونه هم کوو. په دغسی حالت کی به هغه عبادت نه بلکی تش عادت وی. نو تیر پر تیر ! اوس هم ډیر ناوخته نه دی او د توبې دروازه خلاصه ده ؛ خو شرط یې پاک او غوڅ تکل دی. راځی چی نور نو شیطانی فتنې د تل لپاره خوشی او ځانونه د الهی عذابه وړیا خلاص کړو .

## مفلس څوک دی

رسول الله (ص) یوه ورځ د اصحابو څخه داسی وپوښتل: آیا پوهیږئ چی مفلس څوک دی ؟ اصحابو عرض وکړ چی اې رسول الله ! په موږ کی خو مفلس هغه څوک وی چی نه درهم (پیسه) ولری او نه سامان او اسباب. رسول الله (ص) ورته وفرمایل چی زما د امت له منځه مفلس هغه څوک دی چی د قیامت په ورځ به د دې دنیا څخه د هر ډول لمونځونو ، روژو ، زکاتونو او نورو عباداتو سره راځی ، خو د دې تر څنګ به یې نور ګناهونه هم راوړی وی لکه: چا ته ښکنځل کول ، پر چا تهمت تړل ، د چا مال خوړل ، څوک ناحقه وهل ، او څوک ناحقه وژل. نو یو مظلوم ته به د هغه د نیکیو څخه یو څه ورکړل سی او بل مظلوم ته به هم د ده د نیکیو یوه برخه ورکول سی. او کله چی د ده دغه نیکۍ ټولی ختم او د خلکو حقونه پر پاته سی ، نو د اړونده حقدارانو بدۍ او ګناهوې به د ده سره پاته سی او په دوږخ کی به پسی واچول سی ؛ دغه شخص مفلس بلل کیږی (مشکوة. (

هو ، دا څونه عالمانه او عاملانه ښوونه ، پوهونه او روزنه ده. په ربښتیا هم که موږ عبادتونه کوو خو تر څنګ یې ظلمونه ، ګناهونه ، فسادونه او جرمونه هم کوو ، نو اصلی پوروړې او مفلس به همدا موږ یو او ټوله نیکۍ به مو هغه چا ته ځی چی ظلم او تیری مو پر کړی وی. الله تعالی تر خپل حق را تیربدای سی خو د بنده تر حق نه تیریږی. موږ او تاسی شاهدان یو چی په ټولو اسلامی هیوادونو کی غم او مصیبت مسلط دی. دعاوی خورا لږ قبلیږی ، خوښې او سوکالې کډه کړې ، او شر ، فساد ، شخړې او فتنې حکمفرما دې. دا ولی ؟ ځکه چی نننې اکثریت مسلمانان په خوله ډیر ټینګ خو په زړه ډیر سست مسلمانان دې. هغه څه نه کوی چی رحمان ورسپارلې دې خو هغه څه ښه کوی چی شیطان ور منلې وی. پورتنی حدیث یې ښه مصداق دی. نو بیا هم ډیر ناوخته نه دی ؛ د

ارادې او توبې دروازه لا خلاصه ده. خو د توبې په انتظار ګناه ته دوام ورکول صغيره ګناه په کبيره ګناه سره بدلوي .

# د روژې اته ویشتمه تحفه: [د اسلام اصلی روح] او [توبه گناه بالکل محوه کوی]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-16

درنو لوستونکو ، پرون اووه ویشتمه روژه وه او د نړۍ په ډیرو مسجدونو کی د قرآن مجید ختمونه وسول. د جرمنی د مونشن په (میرویس نیکه جومات ) کی هم د تراویح پر مهال ختم القرآن وسو. برخه والو تر ختم وروسته ډیری دعاوی وکړې ( الله دی یې قبولی او مقبولی وګرځوی ). دغو متدینو ختم کونکو د خپلو دعاګانو په لړ کی دغه حقیر او فقیر بنده ته هم دعاوی وکړې چی زه یې د مننی او ستاینی لپاره داسی الفاظ نه لرم چی تقدیم یې کړم ؛ نو ستر رب دې ستر اجر ، ثواب او عوض ورکړی. دغه احوال ما ته معزز ورور محمد امین بسمل راکړ ، الله دی یې ونازوی. نو ځکه زه ځان د هغوی ټولو د فرد فرد ممنون او مرهون بولم او د ټولو وروڼو او خویندو د دعاګانو سره آمین وایم. دا هم د روژې اته ویشتمه تحفه ( ن. صمد (

## د اسلام اصلی روح

د حضرت ابوبکر صدیق (رض) د خلافت پر مهال حضرت عمر (رض) د مدینې منورې قاضی و. هیچا هم هغه ته د کومی شخړې یا دعوې لپاره مراجعه نه کول ، څو چی باالاخره خلیفه ته ورغی او ورته ویې ویل چی ما د دې دندی څخه ګوښه کړه. ابوبکر (رض) ورڅخه وپوښتل چی اې عمره ! آیا د قضا د سختیو او مشکلاتو څخه ځان خلاصوې ؟ عمر (رض) ورته وویل چی اې د رسول الله (ص) ځای ناستې خلیفه ! خبره دا نه ده ، بلکی د مؤمن قوم په منځ کی ما ته ځکه ضرورت نسته چی : هغوی هر یوه خپل مال د حق له مخی پیژندلی دی ، نو ځکه تر هغه زیات نه غواړي ؛ هغه څه چی پر هغوی واجب دي په ښه ډول یې تر سره کوی ؛ هر یو د بل لپاره هغسی خوښوی لکه ځانته چی یې خوښوی ؛ که د هغوی څخه یو غایب سی نو هغه لټوی ؛ که ناروغ سی نو پوښتنی او ډاډ ګیرنی ته یې ورځي ؛ که مسکین او فقیر سی نو مرسته ورسره کوی ؛ که زخمی سی نو تداوی یې کوی ؛ د هغوی دین نصیحت دی او خُلق یې هم امر باالمعروف نهی عن المنکر دی. نو به ولی یو تر بله شخړې ، مخالفت او دعوې سره کوی ؟ همدا علت دی چی زه بېکاره ناست یم او ضرورت می نسته .

هو ، په رښتیا هم د اسلام فلسفه په پورتنیو حقایقو کی نغښتې ده لکه عمر (رض) چی مختصراً عرض کړه. یو مسلمان چی د ځان او بل حق وپیژني او هغه عملی کړي ، الهی فرایض او نبوی دساتیر د زړه له اخلاصه پر ځای کړي ، که یو د بل په عملی درد وخوری او یو پر بل ډیره پیرزوینه ولری ، نور کسان ښه کارونو ته متوجه او له بدو یې منع کړي ، نو قرآن او سنت دا چلنج ورکوی چی نه به شخړې وی ، نه مخالفتونه ، نه به مصیبت وی نه فلاکتونه، نه به تشدد وی او نه ظلمونه. همدا علت دی چی د هغه مهال اکثریت قاضیانو مراجعین نه لرل خو د نن عصر اکثریت قاضیان مسلمانان په داسی لومو کی راګیروی چی خلاصون یې مشکل وی. هغوی اسلامی روح لرل خو دوی شیطانی روح لری. بیا هم ډیر ناوخته نه دی!

## توبه ګناه باالکل محوه کوی

حضرت ابن عباس (رض) داسی فرمایلی دي: کله چی یو ګنهکار بنده رښتیانی توبه وکړي نو الله تعالی یې توبه قبلوی تر دې حده چی ( د الله په امر ) لیکونکي ملایکی او د دغه شخص ګناه کونکي اعضاوی اړونده ګناه بیخی هیروی تر څو شاهدي ورنکړای سی. آن دا چی د ګناه اړونده ځای هم د هغوی د ذهن څخه باسی.
کله چی الله تعالی پر شیطان لعنت ووایه نو شیطان داسی وویل: ستا په عزت می قسم چی تر څو ستا بنده ژوندی وی د هغه د سینې څخه به راونه وځم. خو الله تعالی داسی وفرمایل: په خپل عزت می قسم چی د هغوی د ژوند په ټوله موده کی به یې توبه قبلوم.

ښه ګرانه لوستونکې ! مور ګورو چی نني انسانان ګناهونه ډیر ګران رانیسی خو ثوابونه ډیر ارزانه حتی وړیا له لاسه ورکوی. آیا بیا هم وختی نه دی چی همدا اوس د الله تعالی د دغسی بې پایه رحمت ، محبت او برکت څخه عملاً برخمن سو ؟آیا ښه به نه وی چی د شیطان پر ځای د رحمان خبره او قول عملی کړو ؟ نو راځئ چی له همدې اوس څخه په پاک زړه او پوخ عزم سره جنت مفت واخلو ، صرف پاکه اراده ، ټینګ تکل او د هغه ساتل غواړی او بس!

# د روژې نهه ویشتمه تحفه: [د ایمان دښمن] او [دعا ولی نه قبلیږی؟]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-17

عزتمنو دوستانو ، ښایی لیلة القدر شپه همدا نن وی ( خو الله بهتر پوهیږی ) . د قرآن د القدر سورت دریم آیت فرمایی چی د قدر شپه تر یو زر میاشتو هم بهتره ده ؛ مطلب دا چی په دغه شپه عبادت او نیکی داسی وی لکه پوره یو زر میاشتی ( یا ۸۳ کاله ، یا دیرش زره شپې ) چی یې عبادت او نیکۍ کړې وی. آیا د یو انسان ټول عمر به ۸۳ کالو ته ورسیږی ؟ څوک یې تضمین کولای سی ؟آیا په دې حساب د دغه یوې شپې واقعي عبادت د انسان د ټول عمر د عبادت په اندازه نه دی ؟نو راځئ چی دا آخری موقع او آخری شپه ضایع نکړو او چتی یې له لاسه و نه باسو : ډیر عبادت ، الهی ذکر ، تسبیحات ، استغفار ، دعا او نیکۍ وکړو او باالاخره رښتیانۍ توبه وکړو . په همدې هیله د روژې نهه ویشتمه تحفه قبوله کړئ ( ن. صمد (

## د ایمان دښمن

علما وایی چی د ایمان ، عزت ، عقل ، ثروت او عباد ت د دښمن ښخه ځانونه په ټینګه وژغورئ ، ځکه:

۱ ـ د ایمان دښمن درواغ دی ؛
۲ ـ د عزت دښمن فقر دی ؛
۳ ـ د عقل دښمن غضب دی ؛
۴ ـ د ثروت دښمن خیانت دی ؛
۵ ـ دعبادت دښمن بدعت دی ؛

هو ، نن موږ عملاً ګورو چی اکثریت مسلمانان په رښتیا هم د همدې دښمن په لومه کی راګیر دي. درواغ ایمان داسی خوری لکه وَینه چی لرګی خوری ، فقر ( هغه چی اشد ضرورت یې نه وی ) اعتماد ، باور او عزت له آسمانه مځکی ته راټیټوی ؛ او څوک چی هر څومره ډیر قهر او غضب کوی په هغه اندازه پر خپل کلام ، خپل لاس او خپل دماغ کنټرول بایلی ، ځان او نورو ته خطر پیښوی ؛ څوک چی په کاروبار او معامله کی صادق نه وی بلکی غولونکی او خاین وی په هغه اندازه به د شتمنۍ لرلو سره سره روحاً په عذاب او مفلس وی ؛ هر څومره چی په دین کی نوي شیان

داخلیږی او د یوویشتمی پیړۍ د مقتضیاتو له مخی په دین کی بدلون ونه راولی کیږی هغومره به د اړونده اشخاصو ، ټولنی او وګړو دنیوي او دینی ژوند سپک ، رټلی او د ګوزارونو وړ وی دا ځکه چی اسلام ( یعنی قرآن او احادیث ) بالکل علمی او تطبیقی دي. دا چی هر کال څه نا څه دیرش زره پوه او منور انسانان په اسلام مشرف کیږی دا پخپله د اسلام ساینټفیک ماهیت ثابتوی. نو الله تعالی دی هر مؤمن ته د پورتنیو خطرناکو دښمنانو د منګلو څخه نجات ورکړی.

## دعا ولی نه قبلیږی ؟

د قرآن د المؤمن سورت ۲۰م آیت داسی ډاډ راکوی: « رب دی وایی چی ما دروبوله چی دُعا دی قبوله کړم. » خو یو چا د ابراهیم بن ادهم (رح) څخه چی د دریمی هجری پیړۍ مشهور عالم و ، د دي آیت په هکله پوښتنه وکړه چی موږ دعاوی کوو خو نه قبلیږی ، دا ولی ؟ هغه په ځواب کی ورته وویل چی ګورئ:

۱ ـ خدای ښه پیژنئ خو اطاعت یې نه کوئ ؛
۲ ـ قرآن تلاوت کوئ خو عمل نه په کوئ ؛
۳ ـ شیطان خبیث بولئ خو ورسره مل یاست ؛
۴ ـ وایاست چی محمد (ص) دربادی ګران دی خو سنت یې نه عملی کوئ ؛
۵ ـ جنت مو ډیر خوښ دی لاکن هغه نه غواړئ ؛
۶ ـ د دوږخ له اوره بیریږئ خو د ګناه څخه ځان نه ټولوئ ؛
۷ ـ دا وایاست چی مرګ حق دی خو هغه ته چمتو ینه نه نیسئ؛
۸ ـ د نورو عیب لټوئ ، خو پر خپلو عیبونو سترګی پټوئ ؛
۹ ـ خدای درکړئ رزق ښه خورئ ، لاکن شکر یې نه ادا کوئ ؛
۱۰ ـ مړي ښخوئ لاکن عبرت نه ځنی اخلئ؛

نو د داسی خلکو دعاوی به څنګه قبولي سی ؟

هو ، په ریښتیا هم که شا وخوا وګورو ، نو هر څه سرچپه روان دي او همدا علت دی چی فتتنې ، توطیًې او دسیسې خپرې دي او دعاوی نه قبلیږی. که د ابراهیم ادهم (رح) پوتنی خبرداریٔ ښه په غور او څو څو واره ولولو ، نو ثابته به سی چی په دې خورا لنډ پیغام کی د اسلام ( یعنی قرآن او سنت ) جوهر ، فلسفه ، هدف او آرمان نغښتی دی. څومره به ښه وی که دغه پیغام پر یو نسبتاً غټ

کاغذ باندی ولیکو او په کور یا کار کی یې داسی ځای نصب کړو چی هره ورځ مو سترګی ورباندی ولګیږی او قلباً د هغه هر خبرداریٔ او پوهاویٔ مراعات کړو او هم یې محتویات د نورو دوستانو سره شریک کړو. نو راځئ چی د همدې نیک کار د عملی کولو لپاره صادقانه اراده او فیصله وکړو. ما شخصاً دغه کار کړی دی ، الله دی ټولو دوستانو ته همداسی توفیق ورکړی. ځکه ، ژوند خورا لږ پاته دی او د سترګو په رپ کی درومی .

# د روژې وروستۍ ( دېرشمه ) تحفه: [زړه او ژبه څومره مهم دي] او [د نیک عملو او بد عملو عذاب]

تهیه کونکی: نثار احمد صمد
Larawbar.com 2012-08-18

ګرانو او متدینو دوستانو ، تاسو خو د دې تحفو دیرش برخې ولوستلې. خدای دې وکړی چې محتویاتو یې لږ یا ډیر ایمانی ، اخلاقی او اصلاحی اثر ښندلی وی. دا ټول مواد چې ۲۰ عنوانونه کېدل ، زما د ناچاپه اثر څخه ، چې ( اخلاقی کنایې ) نومیږی ، انتخاب سوي وو . دغه اثر **۴۴۴** دغسی آموزنده ، انتباهی ، تربیوي ، اصلاحی او اخلاقی عنوانونه او موضوعات لری. ډیرو دوستانو را څخه غوښتي دي چې دغه اثر باید چاپ سی. نو دا دی اوس پر درنو مینه والو زیری کوم چې « اخلاقی کنایې» د چاپ لپاره چمتو کیږی او هیله من یم چې تر چاپ وروسته یې په مینه ولولئ ( او لوستنه یې ضروري بولم ). نو دا هم د دې لړۍ وروستۍ برخه ( ن. صمد )

## زړه او ژبه څومره مهم دي

حضرت لقمان چې د بنی حسحاس مریی و ، هغه ورته وویل چې یوه بُزه حلاله کړه او د هغه تر ټولو ښه غوښی راته راوړه. هغه همداسی وکړه ، زړه او ژبه یې ورته راوړل.
څو ورځی وروسته د هغه څښتن بیا ورته وویل چې یوه بُزه حلاله کړه خو د هغې تر ټولو بدی او خرابې غوښی راته راوړه. لقمان یو ځل بیا هماغه زړه او ژبه ورته راوړل. بادار یې ورڅخه وپوښتل چې څو ورځی مخکی دې د بهترینو غوښو په توګه همدا زړه او ژبه راوړي وو ، خو نن دې بیا د بد ترینو غوښو په توګه همدا زړه او ژبه راوړل، دا ولی ؟
لقمان ورته وویل چې صاحبه ، که همدا دوه شیان ښه وی نو په ټول بدن کی تر دې دوو ښه شیان نسته ، خو که همدا دوه شیان بد سي نو بیا په ټول وجود کی تر دې دوو بد شیان نسته ( تفسیر ابن کثیر ).

هو ، حدیث دی چې « څوک خپله ژبه وساتی نو له عذابه خلاصون مومی» . د پخوانی چین پاچا داسی ویلی دي: « تر هغه مهاله چې خبره می نه وی کړې نو مالک یې زه یم ، خو کله چې زما تر

خولې راووزی نو هغه می مالکه ده.» حضرت عیسی (ع) داسی ویلی دي: « مؤمن لږ خبری او زیات عمل کوی ، خو منافق ډیری خبری او لږ عمل کوی». رسول الله (ص) ابو هریرة (رض) ته داسی وفرمایل: « ..... خورا لږ خانده ، ځکه چی ډیره خندا زړه وژنی.» حضرت عمر (رض) داسی فرمایلی دي: « د هر چا زړه چی مړ سی ، نو هغه ته د دوږخ اور لازم دی.» نبی کریم (ص) فرمایی چی « ښه خبره صدقه ده». او رسول الله (ص) داسی فرمایی: « هر څوک چی پټه خوله وی نو خلاصون ( بری ) یې وګټئ». څومره به ښه وی چی خپله ژبه د چټی بیان ، غیبت ، چغلیو ، اتهام ، پس ګویی ، پیغور ، درواغو او ښکنځلو څخه وساتو ؛ او زړه د ګناه له ارادې او سخت والی څخه وساتو چی پایله یې بری او سرلوړی دی ، انشاالله.

## د نیک عملو او بد عملو عذاب

ابو اللیث (رح) فرمایی چی الله تعالی یوشع بن نون (ع) ته وفرمایل چی زه ستا د قوم څلویښت زره نیکان او اتیا زره بد کاران هلاک او تباه کوم. یوشع بن نون (ع) عرض وکړ چی د بدعملو کسانو سزا مناسبه ده خو نیک عمله انسانانو څه خطا او ګناه کړې ده؟
الله تعالی ورته وفرمایل چی نیک عمله کسان بد عمله انسانان د بدیو څخه نه منع کوی ، دهغوی بد اعمال نه غندی بلکی د هغوی سره معاشرت او ملګرتیا کوی او خوراک او څښاک ورسره کوی. زما نافرماني په سترګو وینی لاکن بیا هم هیڅ اقدام نه کوی.

هو ، نن په رښتیا هم کټ مټ هماغه حالات بیا مسلط دي او عملاً ګورو چی هیڅ شی نه سمیږی او ښایی الله تعالی تش په نوم مسلمانانو ته نور عذابونه هم مقرر کړي وی. رسول الله (ص) داسی فرمایلی دي: « په هغه ذات می قسم چی زما ژوند یې په اختیار کی دی چی یا به خلک پر ښه کارونو امر کوئ او له بدو به یې راګرځوئ ، یا دا چی ژر به الله تعالی خپل عذاب درباندی نازل کړی. نو چی هر څونه دعاوی وکړئ الله به یې نه قبلوی» ( ترمذی ).
خلیفه عمر بن عبدالعزیز (رح) داسی فرمایلی دي: « الهی عذاب د خواصو د بدعملیو او خرابکاریو څخه نه راځی ، بلکی که بد او ناوړه اعمال په خلکو کی عام سی او څوک هغوی منع نکړی نو عمومی عذاب راځی چی عوام او خواص په خپلو څپو کی ورسره اخلی.» ښه ، که موږ لیری او نږدې وګورو آیا نن بالکل همداسی نه ده؟ نو که څوک په اخلاص او صداقت سره په خپل ژوندانه کی د کتابُ الله او سنتِ رسوال الله روح داخل نکړی ، هر څه به داسی وی لکه همدا نن چی دي.

# د لیکوال لنډ یاداښت

ګرانو دوستانو ، خدای دی وکړی چی ما او تاسو دغه دیرش ورځنی ملګرتوب په حقیقت او صداقت سره کړی وی. ما دا خپل ایمانی او وجدانی مسؤلیت بالله



چی څه مو زده وی یا راټولولی یې سو ، باید سره شریک یې کړو او حتی الوسع عمل په وکړو. نو ځکه می دا هر څه ستاسو په خدمت کی تقدیم کړل. ما ته هره ورځ د ګرانو او متدینو دوستانو ایمیلونه راتلل او په دعاوو سره یې نازولی یم ، الله دی ټول مؤفق او فایق ولری.

همدا راز «لر او بر» ، «ننبتر» ، «بینوا» ، «دعوت» ، «صدای افغان» او «آزمون ملی» ته دې هم الله تعالی ستر اجر ورکړی چی دغه تحفې یې هره ورځ ببله ځنډه تاسو ته رسولې او په دې جاریه صدقه کی یې مخکښ رول ولوباوه. الله دی پر ټولو هغو لوستونکو باندی ورحمیږی چی دغه لړۍ یې په مینه او رغبت سره تعقیب کړې او د ژوند نصب العین یې ګرځولې وی. الله دې زموږ او ستاسی ټولی روژې ، تراویح ، دعاګانی ، لمونځونه ، عبادتونه ، تلاوتونه او ختمونه قبول او مقبول وګرځوی. مهربان خدای دی د ټولی نړۍ ، منجمله اسلامی نړۍ او افغانستان فعلی ناورین او مصیبتونه ختم ، دفع او رفع کړی او د همدغسی پاک آرمان په هیله د کوچني اختر مبارکي تقدیموم !

والسلام ؛

ستاسو د دعاوو محتاج نثار احمد صمد (nsamad57@hotmail.com)




# پای